# په افغانستان کې د سوداګرۍ ترسره کول ۲۰۱۷

## عمومي نظر














Pashto

د نړۍ ۱۸۹ هیوادونو د اقتصادونو سره ، د
افغانستان د پنځه ولایتونو داخلي شرکتونو پرتله

WORLD BANK GROUP

© ۲۰۱۷ د بیا رغونې او پرمختیا نړیوال بانک/ نړیوال بانک
۱۸۱۸ اِچ شمال لویدیځ سرک، واشنګټن ډي سي ۲۰۴۳۳
ټلیفون شمېره: ۲۰۲-۴۷۳-۱۰۰۰; انټرنيټي پاڼه: www.worldbank.org

یو شمېر حقونه يې خوندي دي.
۱۲۳۴۱۹۱۸۱۷۱۶

ذکر شوې خپرنیزه پروژه د نړیوال بانک د کارکوونکو د هڅو او د بهرنۍ همکارۍمحصول دي. ددې خپرنې موندنې، تفسیر او لنډیزونه د نړیوال بانک، د مدیره هیئت کمیټې او یا هم د اړونده دولتونو د نظر څرګندونه نه کوي. نړیوال بانک ددې خپرنې په ګډون د نورو خپرنو د شمیرو د کروالي تضمین نه کوي. پدې نقشو کې پولې، رنګونه، نومونه او یا هم نور معلومات د حقوقي اړخه د نړیوال بانک د قضاوت څخه استازیتوب نه کوي، او نه هم ددغه ډول پولو د ټاکلو او یا هم تصویبولو ښکارندوي دي.

نو ویلای شي چې هیڅ ډول محدودیتونه او یا هم د امتیازاتو او خوندیتوب څخه سرغړونه د نړیوال بانک نه شمېرل کيري او ددې خپرنې ټول حقونه د نړیوال بانک سره خوندي دي.

**حقوق او اجازې**

دغه خپرنه د Creative Commons Attribution 3.0 IGO (CC BY 3.0 IGO) جوازلاندې د http://creativecommons.org/licenses/by/3.0/igo څخه ترلاسه کیدای شي. د Creative Commons Attribution جواز له مخې تاسې ددغې خپرنې کاپي، ویشل او نقل حق ترلاسه کولای شئ، او همدارنګه د سوداګریزې موخې لپاره يې په لاندې شرایطوکارولی شئ:

**د کاپي حق:** مهرباني وکړئ، ددغې خپرنې د سرچینې جزیاتو څخه په لاندې ډول یادونه وکړئ: نړیوال بانک ۲۰۱۷. په افغانستان کې سوداګري ترسره کُول، ۲۰۱۷ واشنګټن، دي سي: نړیوال بانک. DOI: ۱۵۹۶/۱۰/۹۷۸-۱-۴۶۴۸-۰۹۴۸-۴. د سند جواز: کرییټیو کامنز اټریبیوشن CC BY 3.0 IGO

**ژباړه:** که چیرته تاسې ددغې خپرنې ژباړه کوئ، نو مهرباني وکړئ لاندې یادونه او مأخد ورسره ورزیات کړئ: دغه ژباړه د نړیوال بانک لخوا نده ترسره شوې ، نو باید د نړیوال بانک رسمي ژباړې په ډول ونه پیژندل شي. او نړیوال بانک ددغې ژباړې د محتویاتو د تیروتنو مسؤلیت په غاړه نه اخلي.

**ماخذ:** که تاسې پدغه ترسره شوي خپرنه یا کار کې بدلون راوستل غواړئ او نورو لیکنو کې تر کار اخلئ، نو مهرباني وکړئ لاندې یادونه او مأخذ ورسره ورزیات کړئ: دا د نړیوال بانک د اصلي کار تغیرخوړلې بڼه ده. پدغه بدل شوي لیکنه کې د ورزیات شوي نظریاتو یوازنی مسؤلیت د نظرلیکونکي او بدلون راوستونکي په غاړه دی، او نړیوال بانک دغه بدلونونه نه تاییدوي.

**د دریېمې سرچینې څخه اخیستل شوي محتویات:** نړیوال بانک ددغه خپرنې د ټولو محتویاتو څښتن ندی، نو ځکه نړیوال بانک ددې حکم نشي کولای چې ددغه برخې څخه کار اخیستل او یا هم ددغه محصول هغه برخه چې دریيمې سرچینې څخه اخیستل شوي وي، د هماغه دریېمې سرچینې د حقونو څخه سرغړونه کې نه شمېرل کیري. او ددغه ډول سرغړونې مسولیت به ستاسې په غاړه وي. که تاسې غواړئ چې نوموړي معلومات بیا وکاروئ، نو دا ستاسې مسؤلیت دی چې ددغه معلوماتو سرچینه معلومه کړئ او ددغه معلوماتو د بیا کارولو اجازه ترلاسه کړئ. د بېلګې په توګه، هغه محتویات چې دریېمې سرچینې پورې اړه لري، عبارت دي له جدولونو، شمېرو او انځورونو څخه خو کیداې شي چې له ذکر شوېو محتویاتو پرته نور هم وي.

د حقونو او جواز په اړه هر ډول پوښتنو په اړه باید لاندې ادرس ته مراجعه وشي: د نړیوال بانک خپرونې. د نړیوال بانک ډله، د شمال لویدیځ ۱۸۱۸ سرک، واشنګټن ډي سي۲۰۴۳۳، د امریکا متحده ایالات، فکس: ۲۰۲۵۲۲۲۶۲۵؛ ایمیل: pubrights@worldbank.org .

دغه خپروندویه ټولګه د امریکې د متحده ایالتونو د نړیوالې پراختیايي ادارې په ملاتړ چمتو او د -AID- EGEE-G۱۵-۰۰۰۰۱ قرارداد د شرایطو له مخې عقد شوې ده. په دغه راپور کې ټول عقیده او نظرونو په لیکوالانو پورې اړوند دي او په هیڅ توګه د امریکې د متحده ایالتونو د نړیوالې ادارې رسمي نظرلید نه په ډاګه کوي

# په افغانستان کې د
# سوداګرۍ ترسره کول ۲۰۱۷

## عمومي نظر



د نړۍ ۱۸۹ هیوادونو د اقتصادونو سره ، د
افغانستان د پنځه ولایتونو داخلي شرکتونو پرتله

# افغانستان کې د سوداګرۍ ترسره کولو محتویات ۲۰۱۷

په ((افغانستان کې د سوداګرۍ ترسره کول ۲۰۱۷)) په ولایتي کچه افغانستان کې د سوداګرۍ ترسره کولو لړۍ لومړنی راپور دی. دا راپور په پنځه ولایتونو کې د سوداګرۍ مقررات او د هغوی پلی کول ارزوی . پورته ذکر شوي پنځه ولایتونه په خپلو منځونو کې او هم دنړۍ ۱۸۹ هېوادونو اقتصادونو سره پرتله کوي.

د نورو هېوادونو د اقتصادونو سره یې پرتله کول (( په افغانستان کې د سوداګرۍ ترسره کول ۲۰۱۷: د ټولو لپاره یوشان فرصتونه)) د شاخصونو او د کلني راپورونو د لړۍ څوارلسم راپور، په بنسټ ترسره کیږي. په همدې ډول (( افغانستان کې د سوداګرۍ ترسره کول ۲۰۱۷)) راپور شاخصونه د ۶۵ هېوادونو د ۴۰۰ ځایونو د سیمیزو سوداګریزې څېړني سره د پرتله کولو وړ دي. ټول معلومات او راپورونه ددغه www.doingbusiness.org/subnational ویب سایټ له لارې د لاسرسي وړ دي.

په افغانستان کې د سوداګرۍ ترسره کول هغه مقررات څیړي چې سوداګریزو کړنو ته پراختیا ورکوي او یا یې محدودوي. اړونده مقررات په افغانستان کې د ولایتونو په کچه سوداګریزې کړنې په څلور برخو کې اندازه کوي، چې دغه څلور برخې عبارت دي له: د سوداګرۍ پیل ( د جواز اخیستل)، د ودانۍ جواز، د برېښنا لین ترلاسه کول، او د ملکیتونو ثبتول. دغه شاخصونه لدی امله ټاکل شوي چې دغه شاخصونه سیمې او کړنې د پوښښ لاندې نیسي. دغه شاخصونه ددې لپاره کارول کیږي، تر څو اقتصادي پایلې تحلیل کړي او دا معلومه کړي چې کوم ډول اصلاحات باید رامنځته شي او په کوم ځای کې او ولې باید رامنځته شي. هغه معلومات چې (افغانستان کې د سوداګرۍ ترسره کول ۲۰۱۷) کې شامل دي، د ۲۰۱۶ زېږدیز کال د نوامبر لومړۍ نېټې کې خپاره شوې دي.

دغه پروژه د نړیوال بانک ډلې د نړیوال شاخصونو ډلې ( پرمختیایي اقتصاد) لخوا د (افغانسان کې د پانګونې فضا) پروګرام د یوې برخې په ډول پلي شوی دی.



# ځغلنده کتنه

## اساسي موندنې

- په افغانستان کې د متشبثینو لپاره د سوداګرۍ پیلولو سیمه د مقرراتو د هغو خنډونو له کبله ارزښت لري، چې دوی ورسره مخ کیږي. د مقرراتو څرنګوالی او اغیزمنتوب په څلورو ننبه شویو ساحو کې – د سوداګرۍ پیلول، د ودانیزو چارو د جواز ترلاسه کول، د برښنا ترلاسه کول او د ملکیت ثبتول– د هغو بیلابیلو تعبیرونو له کبله چې له قانون نه په هرځای کې کیږي او د هغو ادارو د اغیزمنتوب په پرتله چې د مقرراتو د پلي کولو مسئولیت لري، په بیلابیلو سیمو کې توپیر کوي.
- په څلور واړو ساحو کې د مقرراتو د غوره پلي کیدو بیلګې په افغانستان کې موندلای شو. اصلاح غوښتونکي پالیسي جوړوونکي کولای شي د هغو معیارونو په کاپي کولو او تکرارسره چې په بریالي ډول په هیواد کې پلي شوي، د پاملرنې وړ پرمختګونه رامنځته کړي.
- د ټولو هغو غوره عملي بیلګو په اقتباس سره چې په سیمه ایزه کچه موندل شوې دي، افغانستان کولای شي د مقرراتو د غوره پلي کولو پولو ته ډیر نږدې شي، او د 190 اقتصادونو په نړیواله رده بندۍ کې چې د سوداګرۍ لپاره یې ښې آسانتیاوې برابرې کړې دي، 11 خانې ټوپ ووهي او له 183 مقام نه 172 ته لاړ شي.

د 2016 کال په اکتوبر میاشت کې د افغانستان په هکله د بروکسل په کنفرانس کې افغان حکومت د پرمختیايي، ملي سولې او پرمختګ کاري چوکاټ، پنځه کلن ستراتیژیک پلان وړاندې کړ. په کنفرانس کې د حاضرو 70 هیوادونو او30 نړیوالو سازمانونو استازو له افغانستان سره د راتلونکو څلورو کلونو لپاره په کال کې د 3.8 ملیارده امریکايي ډالرو پرمختیايي مرستو ژمنه وکړه. په داسې لوړه کچه دوامدار ملاتړ د افغانستان د راتلونکي پرمختګ په هکله د نړیوالي ټولنې ترمنځ د لوړ باور د شتون څرګندونه کوي. د همدې کال په لومړیو کې افغانستان په رسمي ډول د سوداګرۍ د نړیوال سازمان غړیتوب ترلاسه کړ. د دې غړیتوب ګټې له اوسه د لمس وړ دي: کلني صادرات 570 میلیونه امریکايي ډالرو ته لوړ شوي چې له 2013 کال راهیسې 150 میلیونه امریکايي ډالره لوړوالی ښیي. د هیواد له صنعتي سکتور نه هم ښه خبرونه راځي، چیرې چې وده د 2014 کال د 2.4% نه په 2015 کال کې 4.1% ته لوړه شوې ده. افغانستان همداراز خپل مالي دریځ هم د عوایدو د بسیج او د لګښتونو د کنټرول اړوند مهمو پالیسیو په اصلاح سره، پیاوړی کړی دی.[1]

له دې هڅونکو نښو سره سره، افغانستان تر اوسه هم د پرمختګ په برخه کې له سترو ننګونو سره مخ دی. د هیواد تولیزه اقتصادي وده چې له 2003 کال نه تر 2012 کال پورې په منځنۍ کچه 9.4٪ وه په 2014 کال کې 1.5٪ او په 2015 کال کې 2٪ ته راټیټه شوې ده.[2] د افغانستان سړي سر ناخالص ملي تولیدات (GDP) د نړۍ تر ټولو ټیټې کچې تولیداتو کې راځي (1.1 شکل).[3] په اټکلي ډول په کال کې د 3٪ نفوسو ودې او د ناخالصو ملي تولیداتو د بطي ودې او مخ په خرابیدو امنیتي وضعیت په لرلو سره، په افغانستان کې بې وزلي مخ پر زیاتیدو ده.[4] سربیره پردې، په داسې حال کې چې افغانستان د نړۍ په کچه یو لوی مرسته اخیستونکی هیواد پاتې شوی دی، نړیوالې مرستې له 2012 کال راهیسې مخ په لریدو دي. د افغانستان لپاره دا ډیره اړینه ده چې حکومت د اقتصادي ودې لپاره نوې سرچینې ولټوي تر څو د مرسته کوونکو د مخ پر لریدو مرستو جبران وشي.

په داسې حال کې چې افغانستان هڅه کوي پر بهرنیو مرستو له اتکا څخه ځان وباسي، د خصوصي سکتور پرمختګ ورته یو ستراتیژیک لومړیتوب بلل کیږي. د افغانستان خصوصي سکتور فعالیتونه تراوسه هم ډیر محدود دي: د کاري ځواک برخه پکې تر50٪

**1.1 شکل: د افغانستان د ناخالصه ملي تولیداتو وده پخه شوې او د ناخالصه ملي تولیداتو سړي سر کچه د نړۍ دهیوادو ترمنځ په ټیټې کچې کې ده**




سرچینه: د نړیوال بانک ګروپ نه په اقتباس، افغانستان: د هیواد سیستماتیک تشخیص (واشنګټن ډي سي: نړیوال بانک، 2016

ښکته ده، خصوصي سکتور ته د کورني بسپنې کچه د ناخالصو کورنیو تولیداتو (GDP) یواځې 4٪ ده (د کم عایده هیوادونو د GDP د 28٪ منځنۍ کچې نه هم ډیره ښکته ده) او ناخالصه کورنۍ خصوصي پانګونه د GDP یواځې 5.9٪ جوړوي.[5] د خصوصي سکتور ستونزو ته پاملرنه به په اوږدې مودې کې د دوامداره ودې لپاره اړینه وي– له دې سره بیا د سیاسي ستونزو، امنیتي تشویشونو او پراخ فساد کمښت او د ماهرو کارګرو د کموالي ستونزو ته هم پام پکاردی.

په جګړې او تاوتریخوالي ځپلو هیوادونو کې سوداګري کول آسان کار نه دی. جګړه په ځانګړي ډول په رسمي خصوصي سکتور چټکه اغیزه کوي. د تاوتریخوالي او کړوالۍ په پایله کې انساني پانګه ورکیږي. زیربناوې او موسسات له منځه ځي او مالي سرچینو ته لاسرسی ستونزمن کیږي. سره له دې، ډیر جګړه ځپلي او ماتیدونکي هیوادونه په دې توانیدلي چې خپل د سوداګرۍ چاپیریال د مقرراتو په یو شمیر ساحو کې ډیر ښه کړي (1.2 شکل). په تیرې یوې لسیزې کې د نویو سوداګریو د راتګ، خونديي معاملاتو او د مالیاتي قواعدو پام کې نیولو برخو کې ډیر ښه والی راغلی دی.

د افغانستان حکومت چې د اقتصادي پرمختګ په برخه کې د پانګونې د چاپیریال د ښه کولو په ارزښت خبر دی، د خصوصي سکتور پرمختګ ته یې د خپلو هغو نویو ملي پروګرامونو په لومړیتوبونو کې ځای ورکړی

دی چې د 2016 کال په اکتوبرکې د افغانستان په هکله د بروکسل په کنفرانس کې وړاندې شول.[6] د سوداګرۍ د مقرراتي چاپیریال د ښه کولو په موخه یوشمیر مهم نوښتونه وار دمخه پیل شوي دي(1.1 بکس).

د سوداګرۍ د مقرراتو اصلاحات د داسې یو چاپیریال په رامنځته کولو کې مرسته کوي چې د خصوصي سکتور د ودې هڅونکی وي او مستقیمه بهرنۍ پانګونه راجلب کړي د اصلاحاتو په پایله کې د ملکیتونو لپاره ښه تنظیم شوي بازارمنځته راځي، د رسمي سوداګرۍ لپاره د جواز اخیستلو پړاوونه ساده کیږي او همدارګز د برښنا او د ودانیزو چارو د جواز ترلاسه کولو پروسې اغیزمنې او ړنې کیږي.[7] د مقرراتو په پلې کوونکو بنسټونو کې اصلاحات ، روڼتیا ، مسلکیتوب او د پیرودونکو خدمتونو په برخو کې ښه والی راوستلای شي– دا ټول د حکومت د مشروعیت په پیاوړتیا کې کلیدي ارزښت لري. د فساد د کچې ټیټوالی د مقرراتو له اغیزمنتوب او ښه کیفیت سره تړلی دی (1.3 شکل).

## د« سوداګرۍ کولو څیړنه» په افغانستان کې په ۲۰۱۷ کال کې څه شی اندازه کوي؟

د سوداګرۍ کولو څیړنه د سوداګرۍ مقررات د کوچنیو او منځنۍ کچې کورنیو شرکتونو د لیدلوري پر بنسټ مطالعه کوي. د سوداګرۍ کولو څیړنه یوه بنسټیزه فرضیه لرې دا ده چې

**1.2 شکل: جګړه ځپلو هیوادونو په تیرې یوې لسیزې کې په هغو ساحو کې چې د سوداګرۍ کولو څیړنې په واسطه اندازه شوې، ډیر مقرراتي اصلاحات پلي کړي دي**




سرچینه: د سوداګرۍ کولو څیړنې ډیټابیس

یادښت: په 2017 مالي کال کې د نړیوال بانک لخوا نومول شوي 34 جنګ ځپلي او ماتیدونکي هیوادونه په لاندې ډول دي: افغانستان، بوروندي، د افریقا مرکزي جمهوریت، چاد، کومو ( د قمر د جزیرو ټولنه)، د کانګو ډیموکراتیک جمهوریت، دعاج ساحل، جیبوتي، اریټریا، ګامبیا، ګویني بیساو، هایتي، عراق، کیري باتي، کوساوو، لبنان، لایبیریا، لیبیا، مدغسکر، مالي، دمارشال ټاپوګان، د مایکرونیشیافدرالي آیالتونه، میانمار، پاپوانیوګیني، سیرې لیون، د سلیمان ټاپوګان، سومالیا، سویلي سوډان، سوډان، د سوریې عربي جمهوریت، ټوګو، لویدیځه غاړه او غزه، د یمن جمهوریت او زمبابوې. د برښنا د ترلاسه کولو برخه کې اصلاحات (سموني) له 2010 کال راپدیخوا شمیرل شوي دي. هغه اصلاحات چې د کار د بازار د مقرراتو شاخصونه اغیزمنوي، دلته راغلي دي خو د سوداګرۍ د آسانه کولو پر رده بندۍ اغیز نلري. یواقتصاد ذاسې په نظر کې نیول کیږي چې د سوداګرۍ یواځې یوه اصلاح د هرې موضوع پر سر په یو کال کې لري.

**1.3 شکل: د فساد د کچې ټیټوالی د مقرراتو له اغیزمنتوب او ښه کیفیت سره تړلی دی**




سرچینه: د سوداګرۍ کولو څیړنې ډیتابیس، په 2015 کال کې د فساد د شتون شاخص ، د روڼتیا نړیوال سازمان، .https://www.transparency.org/cpi2015//

یادښت: له سرحدي نومرې نه فاصله دا ښیي چې یو اقتصاد د« سوداګرۍ کولو په څیړنې» کې د ذکر شوي هر شاخص په هکله د ډیرو غوره اجراتو نه څومره فاصله لري. لوړې نومرې د غوره مقرراتي اغیزمنتوب او کیفیت ښودنه کوي. په دې نمونې کې 165 اقتصادونه رانغاړل شوي دي چې د سوداګرۍ کولو څیړنې او همداراز د 2015 کال د فساد دشتون شاخص ترپوښښ لاندې هم راغلي دي. د سړې سرعوایدو په کنترول پسې وروسته، اړیکې د یو سلنې په کچه کې ډیرې مهمې دي.

اقتصادي فعالیت له ښو قوانینو او ادارو نه ګټه ترلاسه کوي. په دې کې هغه قوانین شامل دي چې د ملکیت حقوق روښانه او ثابتوي، د اقتصادي تعامل وړاندوینه ډیروي او د تړون ګوندوال د ناوړې ګټې اخیستنې پروړاندې په اساسي ډول خوندي کوي. موخه داده چې: روښانه مقررات ددې لپاره جوړیږي چې اغیزمن، ټولو ته دلاسرسي وړ او په آسانۍ پلي کیدونکي وي.

په تیرې یوې لسیزې کې افغانستان په هغو پنځه ساحو کې چې د سوداګرۍ کولو څیړنې لخوا اندازه شوې دي، مقرراتي اصلاحات پلي کړي دي– ډیر د پام وړ اصلاحات د سوداګرۍ د پیلولو په برخه کې پلي شوي چې افغانستان د سوداګرۍ کولو څیړنې د 2017 کال په نړیوالې رده بندۍ

**په تیرې یوې لسیزې کې افغانستان په هغو پنځه ساحو کې چې د سوداګرۍ کولو څیړنې لخوا اندازه شوې دي، مقرراتي اصلاحات پلي کړي دي– ډیر د پام وړ اصلاحات د سوداګرۍ د پیلولو په برخه کې پلي شوي چې افغانستان د سوداګرۍ ډیټابیس د 2017 کال په نړیوالې رده بندۍ کې په دې برخه کې د 190 اقتصادونو په منځ کې 42 مقام ځپل کړی دی.**

## 1.1 بکس: په افغانستان کې د سوداګرۍ د مقرراتو د چاپیریال د ښه والي لپاره وروستي نوښتونه

په 2016 کال کې افغان چارواکو په هیواد کې د سوداګرۍ د آسانه کولو پرلور مهم ګامونه واخیستل. ددوی د تمرکز یوه ساحه د سوداګرۍ د پیل پروسه وه. پخوا، د سوداګرۍ دوه جوازونه وو: یو د وارداتو او صادراتو لپاره ؤ چې د سوداګرۍ او صنایعو وزارت لخوا ورکول کیده او بل د غیر سوداګریزو فعالیتونو لپاره ؤ چې د افغانستان د پانګونې د ملاتړ اداري (آیسا) لخوا ورکول کیده. په عمل کې، ډیر شرکتونه دې ته اړ وو چې د خپلو فعالیتونو لپاره دواړه جوازونه ترلاسه کړي. د جوازونو نوي سیستم ته د عبور پروسه، چې سوداګر ته به یواځې یو سوداګریز جواز ورکول کیږي، د 2016 کال په وروستیو کې په کابل کې پیل شوه. دا بدلونونه په تدریجي ډول له پلازمېنې بهر نورو ولایتونو ته هم خپاره شول.

نوی جواز د درې کلونو لپاره اعتبار لري. دا بدلونونه ټولو سیمه ایزو شرکتونو ته ګټور دي خو په ځانګړي ډول هغو شرکتونو ته ډیره ګټه لري چې له کابل نه بهر فعالیت کوي او پخوا دې ته اړ وو چې خپل جوازونه تر زاړه سیستم لاندې هر کال نوي کړي (د نورو جزئیاتو لپاره د سوداګرۍ د پیل کولو څپرکی وګورئ).

د جوازونو د ورکړې نوی سیستم کولای شي د سوداګرۍ د پیل پروسه چټکه او آسانه کړي- که څه هم چې لګښت یې ډیر دی. په بیلابیلو سیمو کې د مقرراتي بدلونونو د پلي کولو پروسه ډیرې ننګونې هم لري. کله چې یې پلي کول بشپړ شي، دا به شونې وي چې ددې بدلونونو ټوله اغیزه وارزول شي.

د ودانیز جواز ترلاسه کولو پروسې د بهبود په برخه کې هم هڅې شوې دي. په دې ساحه کې د وروستیو بدلونونو تمرکز پر کابل ؤ (شکل وګورئ). د معیاري عملیاتي کړنلارو د یوې عصري ټولګې او رسمي زماني محدودیتونو په درلودلو سره، یو نوی مقرراتي کاري چوکاټ معرفي شو. یو" واحد مرکز" چې د ښاروالۍ بیلابیل دفترونه ټول پکې په یوځای راټول وي جوړ او ورسره پرلیکه (د انټرنیټ په مټ) خدمتونه هم چمتو شول. په دې نوښت کې په کابل ښاروالۍ کې 75 تخنیکي کارکوونکو ته روزنه او د پوهاوي یو کمپاین چې د موخې کسان یې د ودانیزو چارو کارکوونکي او نور برخه وال وو، شامل وو.

ددې نوښت تمرکز پر استوګنیزو او لوړپوړو ودانیو ؤ. راتلونکی ګام به کیدای شي دا وي چې پروسه، د کوچنیو سوداګریزو ودانیو په ګډون چې یوه بیلګه یې د سوداګرۍ د پیل په موردي مطالعې کې هم شته، د هر ډول ودانیو لپاره ډیره اغیزمنه کړای شي او همداراز د ساختماني جواز لګښت لږ کړای شي (د نورو جزئیاتو لپاره د ودانیز جواز اړوندو مسایلو څپرکی وګورئ).

### په کابل کې د ساختماني جواز د ورکړې په پروسه کې وروستي اصلاحات

**د عامه پوهاوي کمپاین**
- معلوماتي بنرونه او بروشرونه وویشل شول
- په داخلي رسنیو کې انځوریز او غږیز مواد خپاره شول
- په ټولنیزو رسنیو کې هم کمپاین پر لار واچول شو

**ظرفیت جوړونه**
- په کابل ښاروالۍ کې ۷۵ تنه تخنیکي کارکوونکي وروزل شول

**دمقرراتو کاري چوکاټ**
- د ودانۍ جوړولو اجازه لیک لپاره مقررات جوړشول
- د ناقانونه ودانیو په هکله قانون جوړ شو

**اوتوما ت کول**
- د ګډ کاري مرکز بیلابیلې برخې په خپل منځ کې سره ونښلول شوې
- د ودانیو جوړولو اجازه لیک اخیستو لپاره پرلیکه پروګرام جوړ شو
- له ګډ کاري مرکز سره د ودانیو د اجازه لیک اخیستو اړوند بهر بنسټونه ونښلول شول

**ساده کول**
- د ټولو ادارو له اړوندو استازو یو ګډ کاري مرکز جوړشو
- ستونزمن پړاوونه ساده شول

کې په دې برخه کې د 190 اقتصادونو په منځ کې 42 مقام خپل کړی دی. همداراز د پوراخیستلو په برخه کې یې په همدې لیست کې 101 مقام ترلاسه کړی دی.[8] تراوسه هم لا ډیرنور کار ته اړتیا شته. د سوداګرۍ کولو څیړنې لخوا په اندازه شویو ساحو کې افغانستان لا هم د جګړه ځپلو هیوادونو لپاره د ټاکل شوې منځنۍ کچې په پرتله له لسو نه په اتو ساحو کې ښه اجراآت نلري (1.4 شکل).

د سوداګرۍ کولو څیړنې په کلني راپور کې چې د نړۍ 190 اقتصادونه یې سره پرتله کړي دي، د افغانستان استازیتوب کابل کوي، چې پلازمینه تر ټولو لوی سوداګریز مرکز ګڼل کیږي او دهیواد 11٪ نفوس هم پکې میشت دی.[9] خو کابل ټوله کیسه نه کوي. هغه متشبثین چې د افغانستان په بیلابیلو برخو کې فعالیت کوي، له بیلابیلوسیمه ایزو مقرراتي کړنو سره مخ کیږي. د 2017 کال سوداګرۍ کولو څیړنه، په هیواد کې دسوداګرۍ لومړنی نړیواله څیړنه دی چې په سیمه ایزه (ولایتي) کچه مطالعه ترسره کوي او څلور نور ولایتونه: بلخ، هرات، کندهار او ننګرهار هم ارزوي، کوم چې د افغانستان تر ټولو لوی سوداګریز ښارونه: مزارشریف، هرات، کندهار او جلال آباد پکې واقع دي (1.5 شکل).

ددې څیړنې موخه دا ده چې په افغانستان کې د سوداګرۍ د مقرراتو د چاپیریال په هکله پراخ معلومات حاصل شي او همداراز د ښو مقرراتو بیلګې او د اصلاحاتو په موخه سپارښتنې وړاندې شي ترڅو په ملي او ولایتي کچه د راتلونکو پالیسیو د ښه والي لپاره مرسته وکړي. ددې څیړنې تمرکز د هغو شاخصونو پرټولګو دی چې د مقرراتي پروسو ستونزمنوالی او لګښتونه اندازه کوي، کوم چې د کوچنیو او منځنۍ کچې کورنیو شرکتونو د منځته راتګ او فعالیت څلور پړاوونه اغیزمنوي- د سوداګرۍ پیلول (کسب او کار)، د ودانیز جواز ترلاسه کول، د بریښنا ترلاسه کول او د ملکیت ثبتول. دا

**1.4 شکل: د سوداګرۍ کولو څېړني د شاخصونو پربنسټ د جنګ ځپلو او ماتيدونکو هيوادونو د اجراآتو له منځنۍ کچې سره د افغانستان د اجراآتو پرتله**




سرچينه: د سوداګرۍ کولو څيړني ډيټابيس

يادښت: دا شکل د نړيوال بانک د تعريف پربنسټ په 2017 مالي کال کي د 34 جنګ ځپلو او ماتيدونکو هيوادونو معلومات ښيي. د نورو جزئياتو لپاره، د 2.1 شکل يادښت وګورئ.

د شاخصونو ځلور ټولګي څکه غوره شوي وي چي د سوداګريزو مقرراتو هغه ساحې تر پوښښ لاندي راولي چي د معمول حقوقي او مقرراتي کاري چوکاټ پلي کول پکي په بيلابيلو سيمو کي بيلابيلي بڼي لري– څکه چي له قانون نه تعبيرونه اود مقرراتو د پلي کوونکو ادارو سرچيني او اغيزمنتوب په بيلابيلو سيمو کي سره توپير کوي. په داسي حال کي چي اړوند خورا متمرکز وزارتونه په ولايتونو کي د ډيری خدمتونو د رسولو مستقيم واک او مسؤليت لري، په دې منځ کي دبي سيستم څند د ولايتونو واليان دي چي د خدمتونو د رسولو په برخه کي لر رسمي مسؤليت لري خو ډير سيمه ايز څواک او واک ورسره دی. دا راپور همداراز د جندر بعد هم په پام کي نيولی چي «د سوداګرۍ د پيل کولو» او «ملکيت ثبتولو» شاخصونه پکي شامل دي، کوم چي د جندر له پلوه توپير لرونکي کړني هم پکي ارزوي.

د دې څيړني لپاره معلومات د اړوندو قوانينو، مقرراتو، فرمانونو او د فيسونو دجدولونو او همداراز بو پوښتنليک ته په ټول هيواد کي د خصوصي سکتور تر سلو ډيرو کارپوهانو د ځوابونو له لارې راټول شوي دي. د پوښتنليک په ځواب ويونکو کي حقوق پوهان، معماران، انجينران، ودانيز شرکتونه، مسلکي اتحاديې او نور هغه کسان شامل وو چي په څيړنه کي اندازه شويو ساحو اړوندو مقرراتو په برخه کي يې شرکتونو سره کار کاوه او يايې ورته مشورې ورکولې. د حکومت د بيلابيلو کچو مسئولينو هم د معلوماتو په برابرولو کي برخه اخيستي ده. معلومات د 2016 کال نومبر مياشتي نه راپيدخوا راټول شوي دي.[10]

## موندني کومې دي؟

په افغانستان کي د سوداګرۍ کولو څيړني د 2017 کال راپور په هيواد کي د سوداګرۍ چاپيريال ټول اړخونه نه دي ارزولي کوم چي بنايي شرکتونو او پانګوونکو ته ارزښت ولري– د بيلګي په توګه د لوی اقتصاد ثبات، د بازار اندازه، د مالي سيستم وضعيت او يا

**1.5 شکل: د سوداګرۍ کولو څيړني په افغانستان کي پر کابل سربيره څلور نور ولايتونه هم ارزولي دي**




سرچينه: د افغانستان د احصائيې مرکزي اداره، (د نفوسو په هکله معلوماتو لپاره) http://www.cso.gov.af/en

د انساني سرمایې څرنګوالی. د شاخصونو تمرکز پر هغو ساحو دی چې په کوچنیو او منځنیو تشبثاتو پورې اړه لري او ولایتي او د ښاروالۍ مسؤلین پکې پراخه ونډه لري. پایلې دا ښیي چې په افغانستان کې د سوداګرۍ په مقرراتو او د هغوی په پلي کولو کې د ولایتونو په کچه ډېر توپیرونه لیدل کیږي.

کابل په دوه ساحو، د سوداګرۍ پیلولو او د برښنا ترلاسه کولو، کې تر نورو ولایتونو ډېر وړاندې دی (1.1 جدول). خو کابل بیا د ودانیز جواز اخیستلو او د ملکیت ثبتولو په برخو کې په هغه کچه ښه نه دی. په پلازمینه کې د چټکې ودې له کبله، کابل د ساختماني جوازونو او د ملکیتونو د انتقال په برخو کې د غوښتنلیکونو له لوړې شمیرې سره مخ دی. وارد مخه یوشمیر ګامونه اخیستل شوي دي چې د وروسته پاتې کارونو حجم را کم کړي. د ساختماني جوازونو د ورکړې په برخه کې په کابل ښاروالۍ کې یو ګډ مرکز (One-Stop Shop) جوړشوی او یوه آزمایښتي پروژه د پلي کیدو په حال کې ده چې د ملکیتونو ثبت له حقوقي پروسې نه چې د محاکمو په واسطه ترسره کیري یوې اداري پروسې ته را واړوي.

کندهار د ودانیز جواز د ورکړې او د ملکیتونو د ثبت په برخو کې په لومړي مقام کې دی. بلخ (مزارشریف) په هیڅ یوې اندازه شوې ساحې کې لومړی مقام ندی خپل کړی خو په څلورواړو ساحو کې دویم مقام لري. بلخ په وروستیو کلونو کې د نسبي امنیت نه په ګټې اخیستنې ددې جوګه شوی چې تر څیړنې لاندې څلورواړو ساحو کې ښو کړنو ته وده ورکړي. بلخ همداراز د پنځو ولایتونو په منځ کې د ښځو له اقتصادي مشارکت نه په لوړه کچه ګټه ترلاسه کړې ده.[11]

هرات او ننګرهار (جلال آباد)، د پنځو ولایتونو ترمنځ د بې وزلې ترټولو لوړې کچې لرلوسره، د نورو په څیر ښې کړنې نه لري. دا ولایتونه یواځنې دوه ولایتونه دي چې په هیڅ یوې اندازه شوې ساحې کې په لومړي یا دویم مقام کې ځای نلري.

د څیړنې پایلو ته په ځیر کتو سره موږ ګڼ څیزونه پکې لیدلای شو. لومړی دا چې، په بیلابیلو ځایونو کې په کړنو کې توپیرونه لیدل کیږي. د بیلګې په توګه د ساختماني جوازونو په هکله کندهار له سرحدي نومرې نه 39.29 واټن لري خو کابل بیا یواځې 22.39 – نږدې 17 نومرې توپیر. په همدې ډول د ملکیتونو د ثبت په برخه کې کندهار له سرحدي نومرې نه 40.31 نومرې واټن لري، چې له بنګله دیش (27.58) نه وړاندې دی، په داسې حال کې چې کابل (27.50) او هرات (24.17) په دې برخه کې د د جنوبي آسیا هیوادونو په کچه تر ټولو کمزوره کړنې (فعالیتونه) لري. دا تشې (خلاوې) په ډاګه کوي چې داسې ډېر مهم درسونه شته چې د افغانستان ولایتونه یې باید یوله بل نه زده کړي.

دویم دا چې، د سوداګرۍ د پیلولو او برښنا ترلاسه کولو په برخو کې د کابل لوړ مقام د هغو اصلاحاتو منعکسوونکی دی چې یواځې په پلازمینه کې پلي شوي دي. ټول افغانستان ته ددې اصلاحاتو پراخول به متشبثینو ته په نورو ولایتونو او لویو ښارونو کې هم ګټه ورسوي. په دې برخو کې د کابل لوړ مقام ګټل همداراز دا منعکس کوی چې افغانستان ډېر متمرکز اداري سیستم لري (1.2 بکس). هغه متشبثین چې ځینې مقرراتي پروسې په نورو ولایتونو کې بشپړوي دې ته اړ دي چې په کابل کې له مرکزي چارواکو نه اجازه ترلاسه کړي- د بیلګې په توګه د برښنا د نوي مزي ترلاسه کولو لپاره. داسې کارونه پراوونه ډېروي، څنډ رامنځته کوي او د سوداګرۍ د پیلولپاره لګښتونه لوړوي. د مقرراتو په هغو ساحو کې چې په سیمه ایزه کچه پکې خپلواکي شته، په نورو ولایتونو کې سیمه ایزه ادارو د ښو کړنو، مودې لنډولو، او د لګښت او بیروکراتیکو پروسو د ستونزمنتیا کمولو په برخو کې ښې بیلګې وړاندې کړې دي.

**د سوداګرۍ د پیلولو او برښنا ترلاسه کولو په برخو کې د کابل لوړ مقام د هغو اصلاحاتو منعکسوونکی دی چې یواځې په پلازمینه کې پلي شوي دي. ټول افغانستان ته ددې اصلاحاتو پراخول به متشبثینو ته په نورو ولایتونو او لویو ښارونو کې هم ګټه ورسوي.**

دریيمه داچې، په داسې حال کې چې د افغانستان پنځو ولایتونو د سوداګرۍ د پیلولو په برخه کې د ښو نړیوالو کړنو او تجربو پر لور ډېر پرمختګ کړی دی، همدا ولایتونه بیا د ساختماني جوازونو اخیستلو، برښنا ترلاسه کولو او ملکیت ثبتولو په برخو کې تر نورو ډېرو اقتصادونو (هیوادونو) شاته پاتې دي. له سرحدي نومرې نه د واټن پرتله ددې حالت یو ښه انځور وړاندې کوي. د سوداګرۍ د پیل لپاره، ولایتونو په

**1.1 جدول: په افغانستان کې په کوم ځای کې سوداګري کول آسانه او په کوم ځای کې آسانه نه دي؟**

| ولایت (ښار) | د سوداګرۍ پیلول | | د ودانیز جواز ترلاسه کول | | د برښنا ترلاسه کول | | د ملکیت ثبتول | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د DTF نومره | مقام | د DTF نومره | مقام | د DTF نومره | مقام | د DTF نومره | مقام |
| **بلخ** (مزار شریف) | 86.19 | 2 | 38.43 | 2 | 44.03 | 2 | 36.72 | 2 |
| **هرات** (هرات) | 85.94 | 4 | 27.62 | 4 | 38.95 | 5 | 24.17 | 5 |
| **کابل** (کابل) | 92.08 | 1 | 22.39 | 5 | 45.04 | 1 | 27.5 | 4 |
| **کندهار** (کندهار) | 86.19 | 2 | 39.29 | 1 | 42.36 | 4 | 40.31 | 1 |
| **ننګرهار** (جلال آباد) | 85.94 | 4 | 31.71 | 3 | 42.94 | 3 | 35.60 | 3 |

مقام
1
2
3
4
5

سرچینه: د سوداګرۍ کولو څیړنې ډیټابیس

یادښت: د څلورو اندازه شویو ساحو لپاره درجه بندي له سرحدي نومرې نه د واټن (DTF) پربنسټ ترسره شوې چې دا ښیي چې د سوداګرۍ کولو څیړنې د هر شاخص په برخه کې یوولایت د ډېرو غوره کړنو لرونکي اقتصاد نه څومره لرې دی. له سرحدي نومرې نه واټن له 0 نه تر 100 پورې ټاکل شوی دی چې 100 د غوره کړنو ښودنه کوي (څومره چې نومره لوړه وي په هماغه کچه د ولایت کړنې ډېرې ښې دي). د لا ډېرو معلوماتو لپاره د "د سوداګرۍ کولو او په 2017 کال کې په افغانستان کې د سوداګرۍ کولو په هکله" څپرکی او د معلوماتو یادښتونه وګورئ.

## 1.2 بکس: په افغانستان کې د سیمه ایزې حکومتولۍ کاري چوکاټ

د افغانستان دولتي سکتور خورا متمرکز دی. مرکزي اداره له شاوخوا 54 حکومتي واحدونو جوړه شوې ده – چې په دې واحدونو کې وزارتونه، ریاستونه، اداري او خپلواک ریاستونه راځي. د مرکزي حکومت وزارتونه او اداري لومړني بودجوي واحدونه ګڼل کیږي. د افغانستان 34 ولایتونه، چې د نفوسو له مخې له یو بل سره پراخ توپیرونه لري، بودجوي واحدونه نه دي. د ولایتونو په کچه خدمتونه د اړوندو وزارتونو، ادارو او د ولایتي اداري واحدونو لخوا وړاندې کیږي.

ولایتي اداري په ټولیزه توګه محدود ظرفیت او کارکوونکي لري او ډیر څله ددوی او نورو دولتي ادارو ترمنځ د دندو او مسئولیتونو په برخه کې تداخل منځته راځي، د بیلګې په توګه د والیانو (چې د افغانستان د ولسمشر لخوا ټاکل کیږي)، اړوندو وزارتونو او ولایتي شورا ګانو (چې په مستقیم ډول د خلکو لخوا ټاکل کیږي) ترمنځ. ولایتي شوراګانې د والیانو او په ولایتونو کې د وزارتونو اړوند ریاستونو پر کړنو یواځې په محدوده کچه څارنه کوي.

په 2016 کال کې د مالیې وزارت د ولایتي بودجو پالیسي جوړه کړه- چې اوس د وزیرانو شورا لخوا هم تائید شوې ده- چې کولای شي د بودجې په پلان جوړونه او پلي کولو کې د ریاستونو او ولایتي ادارو رول ډیر لوړ کړي.[a] په ولایتونو کې د اړوندو وزارتونو د ریاستونو او والیانو ترمنځ د واکونو په برخه کې د تداخل په هکله د ابهاماتو حل به د سیمه ایزې حکومتولۍ کاري چوکاټ روښانه کړي او د دولتي سکتور مشروعیت او حساب ورکونه به پیاوړې کړي. خو، دغه هڅې چې د خدمتونو رسولو کارونه په ولایتي کچه ترسره شي، دې ته اړتیا لري چې د روڼتیا (شفافیت) اصل ته او همداراز په ولایتي کچه د خدمتونو رسولولپاره ظرفیتونو ته پکې پاملرنه وشي.

د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره (IDLG)، چې د وخت د ولسمشر په فرمان د 2007 کال په اګست کې جوړه شوه، د حکومتي ادارو ترمنځ ، چې د ولایت، ولسوالۍ، کلي او ښاروالۍ اداري پکې راځي، د اړیکو د ټول سیستم مسئولیت لري. د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکې اداري په دننه کې د ښاروالیو چارو عمومي ریاست د ښاروالیو د چارو د مدیریت مسئولیت لري. ښاروالۍ د اساسي قانون له مخې د سیمه ایزو حکومتونو د واحدونو په توګه پیژندل شوې دي، چې د ښاري چارو د تنظیم لپاره منځته راغلي، او له همدې کبله خپله ځانګړې بودجه لري. دوی تر ډیره پرځان بسیا واحدونه دي چې په سیمه ایزه کچه د عوایدو راټولولو له لارې خپل ښاري خدمتونه تمویل او وړاندې کوي. خو دوی د مخ پرودې ښاري نفوس لپاره د خدمتونو په وړاندې کولو کې د ظرفیتونو له محدودیت سره مخ کیږي. ښاروالان په مرکزکې ټاکل کیږي او بودجې یې په مرکز کې تصویب کیږي. د کابل ښاروالي یو ځانګړی حقوقي او سیاسي حالت لري: د سیمه ایزو ارګانونو له خپلواکې اداري نه بیله او خپلواکه ده او په مستقیم ډول د ولسمشر دفتر ته راپور ورکوي.

a. د نړیوال بانک ګروپ، د افغانستان انځور، اکتوبر 2016 (واشنګټن ډي سي: د نړیوال بانک ګروپ، 2016 ).

**1.6 شکل: د افغانستان پنځه ولایتونه له نړیوال اوسط نه، د سوداګرۍ پیلولو له ساحې پرته، په نورو ټولو ساحو کې شاته پاتې دي**




سرچینه: د سوداګرۍ کولوڅیړنې ډیټابیس

یادښت: دا شکل د سوداګرۍ کولو څیړنې په نمونه کې د 190 اقتصادونو ویش د شاخصونو د هرې ټولګې لپاره له سرحدي نومرې نه د هغوی د واټن پربنسټ ښیي. ځومره چې د اقتصادونو غلظت له سرحدي نومرې نه په یو ټاکلي واټن کې ډیر وي نو په هماغه کچه یې سور (عرض) لوی دی. له سرحدي نومرې نه واټن دا ښیي چې یو اقتصاد د سوداګرۍ کولو څیړنې د هر شاخص پر بنسټ له ډیرغوره اقتصاد نه څومره لرې دی. له سرحدي نومرې نه واټن له 0 نه تر 100 پورې ټاکل شوی دی چې 100 د غوره کړنو دسرحد ښودنه کوي (څومره چې نومره لوړه وي په هماغه کچه کړنې ډیرې ښې دي).

**د مقرراتو په هغو ساحو کې چې په سیمه ایزه کچه یکې خپلواکي شته، په نورو ولایتونو کې سیمه ایزه ادارو د ښو کړنو، مودې لنډولو، او د لګښت او بیروکراتیکو پروسو د ستونزمنتیا کمولو په برخو کې ښې بیلګې وړاندې کړې دي.**

اوسط ډول 87.27 نومره خپله کړې ده چې له نړیوال اوسط (82.28) نه ډیره ښه ده. خو په دې نورو اندازه شویو ساحو کې د افغانستان اوسط نومره له نړیوال اوسط نه لږ ترلږه 23 نومرې ټیټه ده (1.6 شکل). له همدې کبله افغانستان باید د نورو اقتصادونو (هیوادونو) له ښو تجربو نه په کاپي کولو او ګټې اخیستنې سره ځان د ساختماني جوازونو، برېښنا ترلاسه کولو او ملکیت ثبتولو په برخو کې له نړیوالو معیارونو سره برابر کړي.

## راتلونکې لار

د هیواد په بیلابیلو سیمو کې د سوداګرۍ د آسانه کولو په هکله د پرتلیزو معلوماتو خپرول کولای شي چې د مقرراتو اصلاحات ګړندي کړي– ځکه چې د سیمه ایزو ادارو لپاره دا ډیره ګرانه ده چې هغه مقرراتي کړنې وپیژني چې ددوی په سیمه کې د ګاونډیو سیمو په پرتله د سوداګرۍ کول ستونزمنوي. سربیره پردې ، په ملي کچه د یوشان حقوقي او مقرراتي کاري چوکاټ لرل دا ډیر آسانه کوي چې د نورو ځایونو ښې کړنې کاپي کړای شي. حتی کوچني اداري اصلاحات، چې سترو مقرراتي بدلونونو ته اړتیا هم نلري، کولای شي د کوچنیو یا منځنۍ کچې شرکتونو لپاره سترې آسانتیاوې رامنځته کړي. دا ځینه په هره ساحه کې (1.2 جدول)، اوهمداراز په سیمه ایزه او نړیواله کچه ځانګړي فرصتونه راپېژني.[12] سربیره پردې، ځینې مشترکې مسئلې هم راڅرګندیږي، د بیلګې په توګه په ولایتي کچه د اداراتو محدود واکونه، زاړه قانوني کاري چوکاټونه او د روڼوالي نشتوالی.

### مشترکې مسئلې

لومړنۍ مهمه اړتیا په سیمه ایزه (ولایتي) کچه د دولتي سکتور د مشروعیت، حساب ورکونې او ظرفیت پیاوړي کول دي. د اداراتو د دندو ترمنځ د تداخل له منځه وړلو او د هغوی د مبهمو رولونو او مسئولیتونو روښانتیا ته اړتیا لیدل کیږي او همداراز باید د اړوندو وزارتونو او والیانو ترمنځ د واکونو د تداخل په برخه کې ابهام له منځه لاړ شي. د شرکتونو له اړوو د مقرراتو د دروند بار لږې کولو لپاره د سیمه ایزو واحدونو د ظرفیتونو لوړولو ته اړتیا ده چې وکولای شي د سوداګریزو مقرراتو اړوند خدمتونه په ښه توګه وړاندې او د حکومت او اداراتو د بیلابیلو سطوحو ترمنځ همغږي رامنځته کړي. دا کاربه همداراز له پلازمینې بهر د اصلاحاتو پلي کیدو ته لار هواره کړي. په 2014 کال کې د افغان حکومت لخوا د لندن په کنفرانس کې د "دځان بسیاینې په لور: د اصلاحاتو او نوي مشارکت لپاره ژمنې" تر سرلیک لاندې یو سند وړاندې شو چې په سیمه ایزه کچه د کافي اداراتو د منځته راوړلو او خدمتونو رسولو پر ارزښت یکې ټینګار شوی ؤ. پیاوړې سیمه ایزه اداري کولای شي په ولایتونو کې د حکومتولۍ اغیزمنتوب لوړ او ورسره هم مهاله د کابل له سرچینو نه، چیرته چې ډیرې بیروکراتیکې پروسې متمرکزې دي، په آسانۍ ګټه واخلي. له کابل پرته، د بیلګې په توګه، د ودانیز جوازونو په ورکړه کې د ښاروالۍ رول د ښاري پراختیا وزارت له ولایتي ځانګې سره تداخل لري. په همدې ډول، په ولایتونو کې د برېښنا د مزي د ترلاسه کولو لپاره متشبثین اړ دي چې د برېښنا خدمتونو په ولایتي ځانګې او همداراز په کابل کې د برېښنا په ریاست کې اړوند اداري پړاوونه بشپړ کړي. د بلخ (مزارشریف) او ننګرهار (جلال آباد) تجربې دا ښیي چې د برېښنا خدمتونو په ځانګه کې د داخلي پروسو اصلاحات ددې لامل شوي چې د برېښنا مزي د ترلاسه کولو په کار کې لږ وخت ولګیږي او اړوند تائیدي امرونه پلازمینې کابل ته له سفر پرته ترلاسه شي.

**پیاوړې سیمه ایزحکومتونه کولای شي په ولایتونو کې د حکومتولۍ اغیزمنتوب لوړ او ورسره هم مهاله د کابل له سرچینو نه، چیرته چې ډیرې بیروکراتیکې پروسې متمرکزې دي، په آسانۍ ګټه واخلي.**

بله مشترکه مسئله د قانوني کاري چوکاټونو نوي کول دي. د بیلګې په توګه د ودانیو (ساختمانونو) په اړه مقررات زاړه او خواره واره دي چې عامه خوندیتوب له جدي خطرونو سره مخامخ کوي. په ساختماني صنعت کې د خوندیتوب د بهبود لپاره د کابل ښاروالۍ په دې وروستیو کې یوه مقرره جوړه کړې ده چې د هستوګنې سرټیفیکیټونه معرفي کوي چې هغه د نوي جوړې شوي ودانۍ لپاره له ښاروالۍ نه د وروستي تائید ترلاسه کولو په اړه رولونه او اړتیاوې ځانګړې کوي. دې ته ورته سیمه ایز نوښتونه کیدای شي په یو ملي ساختماني قانون بدل شي.

**په ساختماني صنعت کې د خوندیتوب د بهبود لپاره د کابل ښاروالۍ په دې وروستیو کې یوه مقرره جوړه کړې ده چې د هستوګنې سرټیفیکیټونه معرفي کوي چې هغه د نوي جوړې شوي ودانۍ لپاره له ښاروالۍ نه د وروستي تائید ترلاسه کولو په اړه رولونه او اړتیاوې ځانګړې کوي. دې ته ورته سیمه ایز نوښتونه کیدای شي په یو ملي ودانیز قانون بدل شي.**

په افغانستان کې د ملکیتونو ثبت د محاکمو له لارې ترسره کیږي خو که دا پروسه په یوې اداري پروسې بدله شي، هم به د قاضیانو او هم د متشبثینو د وخت له ضایع کیدو نه مخنیوی وشي. د وزیرانو شورا په دې وروستیو کې پریکړه وکړه چې د ملکیتونو د ثبت کار او مسئولیت باید له محاکمو نه د افغانستان د ځمکو خپلواکې اداري (اراضي) ته د یوې اداري پروسې په توګه ولیږدول شي. په دې هکله یوه آزمیښتي پروژه په هرات او کابل کې پیلیدونکې ده.

د برېښنا ترلاسه کولو په برخه کې د قانوني کاري چوکاټ د بیا کتنې په هکله هم ګامونه اخیستل شوي دي. پارلمان د 2016 کال په جنوري میاشت کې د برېښنا انرژي د خدمتونو د تنظیم قانون تصویب کړ. خو دا قانون په دې اړه ټولو قانوني خلاوو ته ځواب ویونکی نه دی. د بیلګې په توګه، دا قانون یوه خپلواکه مقرره نه ده جوړه کړې.

د سوداګرۍ پرچاپیریال د مثبتو اغیزو لپاره، د ښو قوانینو د لرلو ترڅنګ د ښو قوانینو انفاذ او پلي کول هم په هماغه کچه اړین کار دی. د مقرراتو اغیزمن پلي کول، د مقرراتو د کاري چوکاټ د جوړولو پرمهال پیل کیږي چې باید دا مقررات د دولتي او خصوصي سکتور له اړوندو شریکانو سره د پراخو سلامشورو له لارې جوړ شي.

په قوانینو کې تعدیلات باید په واضح ډول د قوانینو پلي کوونکو سیمه ایزو ادارو، د سوداګرۍ او حقوقو له ټولنو او عامو خلکو

**1.2 جدول: په افغانستان کې د سوداګرۍ کولو د آسانتیاوو د ښه والي په موخه، وړاندیزشوي مقرراتي**

| وړاندیز شوي اصلاحات | اړوندې اداري او نور شریکان |
|---|---|
| **د سوداګرۍ پیلول** | |
| **په ملي کچه سپارښتنې**<br>• د زیرو (تاریخ تیرو) مقرراتو په له منځه وړلو د سوداګرۍ د پیلولو د پروسې آسانول<br>• د کورني سوداګرو لپاره د جواز اخیستنې د مقرراتو د آسانولو کار ته دوام ورکول<br>• د جندر پراساس تبعیضي قوانینو حقوقي بیا کتنه<br>**په سیمه ایزه (ولایتي) کچه سپارښتنې**<br>• د کابل د واحد کاري مرکز (One-Stop Shop) له تجربې دې د اغیزمنتوب د غوره والي لپاره کار واخیستل شي<br>• له کابل ښار نه بهر دې هم اصلاحات پلي شي | **ملي**<br>• د افغانستان د سوداګریزو فعالیتونو او فکري شتمنیو د ثبت مرکزي اداره (ACBRIP)<br>• د سوداګرۍ او صنایعو وزارت<br>• د مالیې وزارت<br>**سیمه ایزې (ولایتي)**<br>• د ACBRIP ولایتي څانګې |
| **د ساختماني جوازونو اړوندې مسئلې** | |
| **په ملي کچه سپارښتنې**<br>• د ودانیز جواز د صدور لپاره دعیني معیارونو پر بنسټ د فیس د ساده سیستم برابرول<br>• د ودانیز کار د تفتیش لپاره د یو پیاوړي او اساسي سیستم جوړول<br>• د جوازونو په پروسه کې د دخیلو مسئولینو لپاره د سختو معیارونو معرفي کول<br>**په سیمه ایزه (ولایتي) کچه سپارښتنې**<br>• په کابل کې د پیل شویو اصلاحاتو د پروسې په تعقیب، د قانوني کاري چوکاټ عصري کول او واضح کول<br>• د کابل په څیر، د ښاروالیو او د ښاري پراختیا ریاستونو د چارو مدغم کول<br>• په کابل کې د پیل شویو اصلاحاتو د پروسې په تعقیبولو، د جوازونو اخیستلو پروسې شفافیت (روڼتیا)<br>• په کابل کې د پروسې د لګښت راټیټول | **ملي**<br>• د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره<br>• د ښاري پراختیا وزارت<br>**سیمه ایزې (ولایتي)**<br>• د ښاري پراختیا ریاست<br>• د ښاروالۍ ساختماني دفتر<br>**نورې اداري**<br>• مسلکي اتحادیې (معماران او انجینران)<br>• د اوبو او ناولو اوبو (فاضل آب) د سیستمونو اړوند خصوصي شرکتونه |
| **د برېښنا ترلاسه کول** | |
| **په ملي کچه سپارښتنې**<br>• د برېښنا دنوي مزي ترلاسه کولو لپاره د مخکینیو لګښتونو راټیټول<br>• د اړتیا وړ برېښنا او د هغې د لګښت د بلونو په برخه کې د روڼتیا (شفافیت) رامنځته کول<br>• د برېښناخدمتونو د باېمنتوب د څارنې لپاره د یو خپلواک مقرراتي نظارت رامنځته کول<br>**په سیمه ایزه (ولایتي) کچه سپارښتنې**<br>• د بلخ او ننګرهار په څیر، د افغانستان برېښنا شرکت د مرکزي دفتر او سیمه ایزو دفترونو ترمنځ د همغږۍ لاښه کول<br>• د نوي ترانسفارمر د لګولو د امر ورکولو او تائید واک د افغانستان برېښنا شرکت مرکزي دفتر نه ساحوي دفترونو ته لیږدول | **ملي**<br>• د افغانستان برېښنا شرکت<br>• د انرژي او اوبو وزارت<br>**سیمه ایزې (ولایتي)**<br>• د افغانستان برېښنا شرکت سیمه ایز دفترونه<br>**نورې اداري**<br>• د برېښنا خدمتونو جواز لرونکي شرکتونه<br>• مسلکي اتحادیې (انجینران) |
| **د ملکیت ثبتول** | |
| **په ملي کچه سپارښتنې**<br>• په ابتدایي محاکموکې باید معیاري فورمې او د لګښتونو(فیسونو) مهالویش دلاسرسي وړ وي<br>• د ځمکو اړوند سوابقو او پروسو برېښنایي (ډیجیټلي) کول<br>• د اجارې مصئونیت او د ځمکو پر سر د شخړو د حل میکانیزمونو ښه کول<br>• د ملکیت د ارزښت ټاکني پروسې پرځای د ملکیتونود ارزښت ټاکلو لپاره د یو معیاري پروګرام رامنځته کول<br>• د کورني پروسو آسانه کول<br>• ترڅت وروسته پړاوونه سره یوځای کول<br>• د معلوماتو روڼتیا (شفافیت) یو لومړیتوب ګڼل<br>**په سیمه ایزه (ولایتي) کچه سپارښتنې**<br>• په کابل او هرات کې د اعلان شویو آزمیښتي پروژو په څیر، د ملکیت د ثبتولو پروسه پر یوې اداري پروسې بدلول | **ملي**<br>• د عدلیې وزارت<br>• د افغانستان د ځمکو خپلواکه اداره (اراضي)<br>**سیمه ایزې (ولایتي)**<br>• ابتدایي محکمې<br>• مخزن (د مرافعې محکمې آرشیفونه)<br>• مستوفیت (دمالیې وزارت د عوایدو ولایتي څانګه)<br>• ملکیتونه (د ښاروالۍ د ملکیتونو دفتر) |

یادښت: د هرې سپارښتنې په هکله د جزئیاتو لپاره، په هر څپرکي کې د "څه شی اصلاح کیدای شي؟" برخه وګورئ. په ځلورو اندازه شویو ساحو کې دهر پړاو لګښتونو او مودې په هکله د جزئیاتو لپاره، اړوند د پړاوونو لیست وګورئ.

سره شریک کړای شي. ددې لپاره چې ډاډ حاصل شي چې ټول په قوانینو کې پر راغلو بدلونونو پوه شوي او عملي کیږي، د نوي قانون له متن سره باید داسې لارښود مل وي چې وښيي دا قانون څنګه تعبیرشي.

د سوداګرۍ د مقرراتو په ټولو ساحو کې دې ته اړتیا لیدل کیږي چې د مقرراتو او پړاوونو په هکله دلاسرسي وړ او کاروونکي ته آسانه معلومات برابر او وړاندې شي. کله چې غوښتونکي د داسې معلوماتو له نه شتون سره مخ کیږي، نو حکومتي اداري حساب ورکوني ته نشي اړویستلای او دا حالت بې قانوني او فساد ته لار هواروي. د سوداګرۍ کولو څېړنې پر بنسټ افغانستان د نړۍ په کچه د هیوادونو ترمنځ د ساختماني مقرراتو د روڼتیا او لاسرسي په برخه کې تر ټولو په ټیټه کچه اجراآت لري. د بیلګې په توګه، متشبثین د ودانیز جواز د لاسته راوړلو په برخه کې د اړینو فیسونو، اسنادو او اداري پړاوونو په هکله مخکیني معلومات نلري. خو په کابل کې په دې وروستیو کې په دې برخه کې د پام وړ ګامونه اخیستل شوي ترڅو د ودانیز جواز د اخیستلو په هکله معلوماتو ته د خلکولاسرسی آسان کړي. په دې لړکې د پروسو لارښودونه، چک لستونه او معیاري فورمې جوړې شوي چې په ښاروالۍ کې او همداراز پر لیکه (د انټرنیټ پرمټ) د لاسرسی وړ دي. همداراز په کابل کې د پوهاوي یو پراخ کمپاین پلې شوی دی چې د صنایعو کارکوونکي له مقرراتو سره آشنا کړي. کولای شو دا نوښت د یو ښه عمل د بیلګې په توګه یاد کړو چې کیدای شي په نورو ولایتونو کې هم کاپي او عملي کړای شي.

دې ته ورته هڅې کولای شي چې د ملکیتونو د ثبت او د برښنا مزي ترلاسه کولو پروسو په هکله هم د ګټورو معلوماتو لاسته راوړل آسانه کړي. د ځمکو او ملکیتونو اړوند معلومات لکه د فیس، پړاوونو او دملکیت د انتقال په هکله، باید عامو خلکو ته د لاسرسي وړ شي. د برښنا خدمتونو وړاندې کوونکې اداري باید پیرودونکو ته په روښانه توګه تشریح کړي چې د برېښنا د نوي مزي د ترلاسه کولو لپاره کومو پړاوونو، څومره مودې او څومره لګښت ته اړتیا شته. د لګښتونو د تعرفو په هکله معلوماتو ته هم باید دخلکو لاسرسی آسانه کړای شي.

## سیمه ایزې او نړیوالې ښې کړنې

په افغانستان کې پالیسي جوړوونکي کولای شي د همدې سیمه ایزې (ولایتي) کچې څېړنې له موندنو نه په ګټې اخیستنې سره خپل کار پیل کړي- ترڅو وپوهیږي چې په بیلابیلو سیمو کې د توپیرونو لاملونه کوم دي او پېژندل شوې ښې کړنې نورو سیمو ته کاپي کړي. که افغانستان ټولې هغه ښې کړنې چې په پنځه ولایتونو کې موندل شوې دي په نورو ځایونو کې هم پلې کړي نو ددې هیواد ټولیز اجراات به ښه شي (1.7شکل).

د ملکیت د ثبت بیلګه درواخلئ. یو فرضي ځای چې دا پروسه پکې 9 پړاوونه وهي (لکه په کابل کې) او 75 ورځې وخت نیسي (لکه په کندهارکې) او د ځمکې د مدیریت د کیفیت په شاخص کې شپږ نومرې لري (لکه په بلخ کې) نو په نړیواله رده بندۍ کې به 175 یم ځا ی خپلوي- په تقریبي توګه د افغانستان له اوسني دریځ (186) نه 30 درجې لوړ او له پاکستان (169) نه هم 12 درجې پورته. د ودانیز جواز په هکله، یوداسې ځای چې دا پروسه پکې 96 ورځې وخت نیسي او د ګودام د ارزښت 28.4٪ لګښت پرې راځي (لکه په کندهار کې) او 13 پړاوونو ته اړتیا لري او د ودانۍ د کیفیت د کنټرول په شاخص کې 2.5 نومره لري (لکه په کابل کې) نو له سرحدي نومرې نه به یې واټن 41.12 وي. دا د افغانستان له اوسنۍ نومرې (22.39) نه چې اوس د نړۍ په کچه یوه ټیټه نومره ده، نیږدې 20 نومرې لوړه ده او له هندوستان (32.83) نه هم لوړه ده.[13]

د څلورو اندازه شویو ساحو لپاره د 2017 کال د سوداګرۍ کولو څېړنې پربنسټ له سرحدي نومرې نه د افغانستان اوسنی واټن په منځنۍ کچه 46.75 دی. د هغو ټولو ښو کړنو اقتباس چې په سیمه ایزه کچه موندل شوې دي کولای شي دا اوسط 10 نومرې لوړ کړي (56.89)- او هیواد به مو په نړیوالې رده بندۍ کې په ټولیزه توګه سوداګرۍ کولو ته د آسانتیاو برابرولو په برخه کې 11 ځاني لوړ لاړ شي، له 183 نه 172 ته. افغانستان به بیا نور په سویلي آسیا کې تر ټولو ټیټې درجې هیواد نه وي.[14]

د جوړو په ښه زده کړې ته وده ورکول به ملي، ولایتي او د ښاروالیو پالیسي جوړوونکو ته دا فرصتونه برابر کړي چې په ځینو ساحو کې خپلې ښې کړنې له نورو سره شریکې او همداراز له نورو هم دا زده کړي چې په نورو سیمو کې په نورو ساحو کې کومو کړنو ښې پایلې لرلې دي. پایلې به ټولو ته ګټورې وي.

په یو هیواد کې د سوداګرۍ چاپیریال د ښه کولو په موخه د اصلاحاتو د پلان جوړول او پلې کول یو ننګوونکي کار دی- ځکه چې دا د حکومت د ګڼو ادارو مشارکت او همداراز د همغږۍ هڅو او تخنیکي ظرفیت ته اړتیا لري. خو د افغانستان حکومت په دې لار کې د مهمو ګامونو اخیستل پیل کړي دي. د اُصلاحاتو پلې کولو د سوداګریو پیلول آسانه کړي او هیواد یې د سوداګرۍ د پیلولو د آسانتیاوو په برخه کې د ښو کړنو لرونکو اقتصادونو په لیکه کې راوستی دی، چې دا اصلاحات له 2010 کال راهیسې پیل شوې دي. دا بریالۍ تجربه کولای شو نورو ساحو ته د اصلاحاتو د هڅو په غځولو سره تکرار کړو.

هغه حکومتونه چې د مقرراتو د اصلاحاتو پروګرامونو ته په دوام ورکولو کې بریالي شوي دي داسې یوه جامع کړنلاره خپلوي چې د مقرراتو ګڼ شمیر ساحې ترپوښښ لاندې راولي. افغانستان کولای شي د نړۍ د اصلاحاتو له تجربو ګټه واخلي. د بیلګې په توګه روندا هیواد د داخلي پروسو یوه کتنه ترسره کړه، د اصلاحاتو لپاره یې ساحې د لومړیتوبونو پربنسټ وټاکلې او د مقرراتو د اصلاح یوه کمیټه یې جوړه کړه ترڅو دا کمیټه ډاډ حاصل کړي چې د اصلاحاتو د پلې کولو په برخه کې د ادارو ترمنځ همغږي شتون لري او په دوامداره توګه د اصلاحاتو په برخه کې پرمختګ وڅاري. دې ته ورته کمیټې د وزارتونو ترمنځ او آن د ښاروالۍ په کچه په ګڼ شمیر هیوادونو کې، د کولمبیا، هندوستان، اندونیزیا، مکسیکو، نایجیریا، پاکستان او پولنډ په ګډون جوړې شوې دي.

د سوداګرۍ د مقرراتو اصلاحات کولای شي ستړې پایلې ولري. د سوداګرۍ کولو لپاره د آسانتیاوو په برخه کې د هیوادونو ترمنځ لوړ مقام لرل له ډیرې ودې، ډیرو دندو، کوچني غیر رسمي سکتور او لویو مستقیمو بهرنیو پانګونو سره مل وي.[15] دا اصلاحات رسمي سکتور ته د شرکتونو او کارکوونکو په راوستلو سره د مقرراتو د پلې کېدو لمن پراخوي. په دې توګه کارکوونکي کولای شي د روغتیا بیمې او تقاعد په څېر ګټې ترلاسه کړي. سوداګرۍ مالیات ورکوي. د محصولاتو د کیفیت معیار ټاکل کیږي. سربیره پردې، رسمي شرکتونه د خپلو سوداګریو د پراختیا په موخه بانکي پورونو ته او همداراز د ستونزو د حل په موخه محاکمو ته پراخ لاسرسی لري. د سوداګرۍ په مقرراتو کې اصلاحات چې ناقانونه کړنې کموي او د ملکیت حقوق پلې کوي زیانمنونکو ګروپونو، د بیلګې په توګه ښځو ته چې د سوداګرۍ د غیررسمي سکتور لویه برخه جوړوي، ډیر ګټور دي.

## 1.7 شکل: افغانستان به خپله نړیواله درجه د هغو ښو کړنو په اقتباس چې په ولایتي کچه موندل شوې دي، څومره ښه کړای شي؟




سرچینه: د سوداګرۍ کولو ډیټابیس

یادښت: پاسنی شکل د نارینه وو او ښځو لپاره د سوداګرۍ د پیلولو په برخه کې په اوسط ډول پراوونه او موده ښیي.

## یادښتونه

1 کورني عواید د ناخالصو ملي تولیداتو (GDP) 10.2٪ ته ورسیدل (د 2014 کال د 8.7٪ نه لوړشول) او د 2016 کال په لومړیو اته میاشتو کې د 2015 کال د همدې مودې په پرتله 30٪ لوړ شول. نړیوال بانک، د افغانستان د پرمختګ په اړه نوي معلومات، اکتوبر 2016 (واشنګټن ډي سي: نړیوال بانک، 2016).

2 د نړیوال بانک ګروپ، د افغانستان انځور، اکتوبر 2016 (واشنګټن ډي سي: د نړیوال بانک ګروپ، 2016 ).

3 د نړیوال بانک ګروپ معلومات، http://data.worldbank.org/indicator .

4 د بې وزلی کچه چې په 2011–2012 کې 36٪ وه په 2013–2014 کې 39٪ ته لوړه شوې ده. دنړیوال بانک ګروپ، د افغانستان انځور، اکتوبر 2016 (واشنګټن ډي سي: د نړیوال بانک ګروپ، 2016 ).

5 د نړیوال بانک ګروپ، له 2017 نه تر 2020 مالي کلونو په اوږدو کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مشارکت کاري چوکاټ (واشنګټن ډي سي: نړیوال بانک، 2016 ).

6 د افغانستان اسلامي جمهوریت، د افغانستان د سولې او پرمختګ ملي کاري چوکاټ (ANPDF)، 2017 نه تر 2021 پورې (کابل، 2016).

7 په افغانستان کې د مستقیمې بهرنۍ پانګونې کچه ټیټه پاتې شوې ده. د بهرنۍ پانګونې راتګ د 2001 او 2005 کلونو ترمنځ په تدریجي ډول زیات شو چې 271 میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیدلی ؤ. د هیواد په کچه امنیت کې د خرابوالي راتلو له کبله، د بهرنۍ پانګونې راتګ لږ او له 2006 کال راهیسې ډیر نامنظم شو، چې د ملګرو ملتونو د سوداګرۍ او پرمختګ کنفرانس (UNCTAD) د معلوماتو پربنسټ په 2014 کال کې یې کچه 54 میلیونه ډالرو ته راټیټه شوه.

8 نړیوال بانک، په 2017 کې دسوداګرۍ کولو څېړنه: ټولو ته برابر فرصتونه (واشنګټن ډي سي: نړیوال بانک، 2016).

9 د نفوسو معلومات د افغانستان د مرکزي احصائیې اداري نه اخیستل شوي دي. http://www.cso.gov.af/en/page/demography-and-socile-statistics/demograph-statistics/3897111. په 2017 کې دسوداګرۍ کولو څېړنه د 190 اقتصادونو 11 د شاخصونو ټولګې ترپوښښ لاندې راوستي دي. د شاخصونو ډیرۍ ټولګې د هر اقتصاد د سوداګرۍ د تر ټولو لوی ښار د یوې واقعي سناریو نه را اخیستل شوې دي خو د یوولسو اقتصادونو لپاره چې نفوس یې له 100 میلیونو لوړ دی (بنګله دیش، برازیل، چین، هندوستان، اندونیزیا، جاپان، مکسیکو، نایجیریا، پاکستان، دروسیې فدراتیف او امریکا متحده آیالات) د سوداګرۍ ډیټابیس د هماغه هیواد دویم لوی سوداګریز ښار معلومات هم راټول کړي دي.

10 د کابل لپاره معلومات د 2016 کال له جون میاشتې راپدیخوا راټول شوي دي. د نورو جزئیاتو لپاره "سوداګري کول او په 2017 کې په افغانستان کې سوداګري کول" څېرکی وګورئ، د معلوماتو یادښتونه او د مرسته کوونکو لیست د "کورودانې" په برخه کې وګورئ.

11 د نړیوال بانک ګروپ، د افغانستان ولایتي لنډیز، ډیسمبر 2016 (واشنګټن ډي سي: د نړیوال بانک ګروپ، 2016).

12 د اصلاحاتو لپاره ټولې سپارښتنې د هر څېرکي د "څه شی اصلاح کیدای شي؟" برخه کې په جزئیاتو راغلي دي.

13 په داسې حال کې چې د افغانستان واټن له سرحدي نومرې نه د ودانیز جواز په برخه کې (22.39) په نړۍ کې تر ټولو ټیټ دی، دا هیواد په نړیوالی ردہ بندي کې په دې برخه کې د 190 اقتصادونو په منځ کې 186 یم ځای لري ځکه چې څلور هیوادونه غیرعملي اقتصادونه دي (ایریتریا، لیبیا، سومالیا او د سوریې عربي جمهوریت).

14 که ټولې ښې کړنې اقتباس شوې وای نو افغانستان به له بنګله دیش نه چې اوس په 176 مقام کې دی، مخکې ؤ.

15 په اوسط ډول د اقتصادونو (هیوادونو) په منځ کې، د سوداګرۍ کولو څېړنې له سرحدي نومرې نه د واټن د ارزونې پربنسټ د مقرراتو په کیفیت کې یو سلنه توپیر په کلنی مستقیمې بهرنۍ پانګونې کې له 250 نه تر500 میلیونو ډالرو پورې توپیر رامنځته کوي. په نړیوال بانک کې د جان انډرسون او ادریان ګونزالز د "آیا سوداګرۍ کول پر بهرنۍ مستقیمې پانګونې اغیزه لري؟" پربنسټ، په 2013 کې د سوداګرۍ کولو څېړنه: د کوچنیو او منځنیو پانګونو لپاره دقیق مقررات (نړیوال بانک: واشنګټن ډي سي، 2012 کال). د کوچني غیررسمي سکتور په هکله موندنې د سیمون جانکوف، کارالي مک لیش او ریتا رامالو د "مقررات او وده"، اقتصادي لیکونه 92، نومره 3 (2006 ): 395–401 مخونو نه رااخیستل شوي دي.

# دشاخصونو ښودنه

## د سوداګرۍ پیل(کار او کسب )

| ولایت (ښار) | پراوونه (شمېر) | موده (ورځ) | لګښت (٪سړی سر عاید) | دکم تر کمه شتمني لګښت (٪سړي سر عاید) | داصلی پولی څخه شمیر (۰-۱۰۰) | دسوداګرۍ په پیل کی اسانتیاوی (درجه بندی) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| بلخ (مزار شریف) | ۵.۸ | ۵.۸ | ۹.۱۹ | – | ۱۹.۸۶ | ۲ |
| کابل (کابل) | ۵.۳ | ۵.۸ | ۹.۱۹ | – | ۰۸.۹۲ | ۱ |
| کندهار (کندهار) | ۵.۸ | ۵.۸ | ۹.۱۹ | – | ۱۹.۸۶ | ۲ |
| ننګرهار (جلال آباد) | ۵.۸ | ۵.۹ | ۹.۱۹ | – | ۹۴.۸۵ | ۴ |
| هرات (هرات) | ۵.۸ | ۵.۹ | ۹.۱۹ | – | ۹۴.۸۵ | ۴ |

پراونه او وخت په منځنی توګه د ښځو او نارینوو لپاره محاسبه کیږي

## د ودانۍ د جواز لاس ته راوړل

| ولایت (ښار) | پراوونه (تعداد) | موده (ورځ) | لګښت (٪ دزیرمتون ارزښت) | دساختمان دکیفیت دکنټرول شاخص (۰-۱۵) | داصلی پولی څخه واټن (۰-۱۰۰) | د ودانی دجواز د لاس ته راوړلو اسانتیاوی (درجه بندی) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| بلخ (مزار شریف) | ۱۴ | ۱۰۸ | ۸.۳۱ | ۰.۲ | ۴۳.۳۸ | ۲ |
| کابل (کابل) | ۱۳ | ۳۵۶ | ۷.۸۲ | ۵.۲ | ۳۹.۲۲ | ۵ |
| کندهار (کندهار) | ۱۴ | ۹۶ | ۴.۲۸ | ۰.۲ | ۲۹.۳۹ | ۱ |
| ننګرهار (جلال آباد) | ۲۱ | ۱۰۴ | ۳.۳۴ | ۰.۲ | ۷۱.۳۱ | ۳ |
| هرات (هرات) | ۲۳ | ۱۳۳ | ۱.۳۲ | ۰.۲ | ۶۲.۲۷ | ۴ |

## دبریښنا دلین اخیستنه

| ولایت (ښار) | پراوونه (شمېر) | موده (ورځ) | لګښت (٪ سری سر عاید) | دتعرفی د باور،تدارک او روڼوالی شاخص (۰-۸) | داصلی پولی څخه واټن (۰-۱۰۰) | دبریښنا د لین د اخیستلو اسانتیاوی (درجه بندی) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| بلخ (مزار شریف) | ۷ | ۹۴ | ۳.۱،۹۵۷ | ۰ | ۰۳.۴۴ | ۲ |
| کابل (کابل) | ۶ | ۱۱۴ | ۷.۲،۲۷۴ | ۰ | ۰۴.۴۵ | ۱ |
| کندهار (کندهار) | ۷ | ۱۰۹ | ۶.۱،۹۷۰ | ۰ | ۳۶.۴۲ | ۴ |
| ننګرهار (جلال آباد) | ۷ | ۱۰۴ | ۳.۱،۹۵۷ | ۰ | ۹۴.۴۲ | ۳ |
| هرات (هرات) | ۷ | ۱۴۰ | ۹.۱،۹۸۳ | ۰ | ۹۵.۳۸ | ۵ |

## دملکیت ثبتول

| ولایت (ښار) | پراوونه (شمېر) | موده (ورځ) | لګښت (٪ دملکیت ارزښت) | دملکیت د اداری دکیفیت شاخص (۰-۳۰) | داصلی پولی څخه واټن (۰-۱۰۰) | دملکیتونو د ثبت په پروسه کی اسانتیاوی (درجه بندی) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| بلخ (مزار شریف) | ۱۱ | ۱۱۹ | ۰.۵ | ۰.۶ | ۷۲.۳۶ | ۲ |
| کابل (کابل) | ۹ | ۲۵۰ | ۰.۵ | ۰.۳ | ۵۰.۲۷ | ۴ |
| کندهار (کندهار) | ۱۱ | ۷۵ | ۰.۵ | ۰.۴ | ۳۱.۴۰ | ۱ |
| ننګرهار (جلال آباد) | ۱۲ | ۹۷ | ۰.۵ | ۰.۴ | ۶۰.۳۵ | ۳ |
| هرات (هرات) | ۱۱ | ۲۳۶ | ۰.۵ | ۰.۴ | ۱۷.۲۴ | ۵ |

# د پړاونو نوملړ

**د سوداګرۍ (کاروبار) پیلول**

## بلخ (مزار شریف)

*د شرکت ستندرد حقوقي شخصیت: خصوصي محدودالمسئولیته شرکت*

*حداقل اړینه پانګه: هیڅ*

*د معلوماتو د خپریدلو د پیل نیټه: د ۲۰۱۶ کال له نومبر میاشتې راپدیخوا*

### ♀ لومړی پړاو: له کور نه بهر وتلو لپاره له خاوند نه اجازه ترلاسه کول

**موده :** ۱ ورځ

**لګښت:** هیڅ

**تشریح:** د افغانستان د مدني قانون د ۱۹۷۷ مادې پربنسټ، که یوه واده شوې ښځه له خپل استوګنځي څخه د خاوند له اجازې او یا له جایزو موخو پرته ووځي نو د نفقې مستحقه نه ده.

### دویم پړاو: د شرکت د نوم او د شرکت د خاوندانو د مالي ورټیا څېړل

**موده:**۱ ورځ

**لګښت:** هیڅ

**تشریح:** د ۲۰۱۶ کال تر ډیسمبر پورې، چې دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړادارې (آیسا) عملیاتي چارې په تدریجي توګه د افغانستان دسوداګریزوفعالیتونودمرکزي ثبت ریاست ته په سوداګرۍ او صنایعو وزارت کې ولیږدول شوې،په مزارشریف کې دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړادارې (آیسا) یو سیمه ایز مامور به په کابل کې دافغانستان دپانګې اچونې د ملاتړادارې (آیسا) مرکزي دفتر ته یو ایمیل لیږه او د شرکت د وړاندیزشوي نوم د شتون په هکله او همداراز دشرکت د خاوندانو د مالي وړتیا په اړه به یې ترې تائید غوښته. دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړادارې (آیسا) او د افغانستان دسوداګریزوفعالیتونودمرکزي ثبت ریاست د ادغام له کبله په دې پړاو کې د بدلونونو راتللو امکان شته.

### دریم پړاو: د جواز اخیستو لپاره غوښتنلیک سپارل او د شرکت د ثبت لپاره د یو مکتوب ترلاسه کول

**موده:** ۱ ورځ

**لګښت:** هیڅ

**تشریح:** د جواز غوښتونکی یو داسې غوښتنلیک چې لاندې معلومات پکې لیکلي او سندونه ورسره یوځای وي،سپاري:

- د شرکت د خاوندانو نومونه او دهغوی د تذکرو کاپي
- د شرکت د خاوندانو اویا د بورډ دغړو عکسونه
- د شرکت حقوقي شخصیت یا پیژندنه (د بیلګې په توګه، شخصي مالکیت، حقوقي شرکت یا محدودالمسئولیته شرکت)
- د مشارکت شرطونه (مادې)
- د شرکت نوم او پته (د کرایې/اجارې تړون)

د ۲۰۱۶ کال تر ډیسمبر پورې، دافغانستان دپانګې اچونې د ملاتړادارې (آیسا) د ۲۸۴۷ افغانیو تعرفه ورکوله چې دا پیسې باید په افغان یونایتید بانک کې تحویل شوې وای. کله چې به دا پیسې تحویل شوې نو د جواز غوښتونکي به یو مکتوب ترلاسه کړ چې په مرسته یې خپل شرکت د افغانستان دسوداګریزوفعالیتونو د مرکزي ثبت په ریاست کې ثبت کړي. دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړ ادارې (آیسا) اود افغانستان دسوداګریزوفعالیتونو د مرکزي ثبت ریاست دادغام له کبله په دې پړاوکې دبدلونونوراتللوامکان شته.

### څلورم پړاو: د جواز اخیستو لپاره فیس ورکول

**موده:** ۱ ورځ

**لګښت:** ۲۸۴۷ افغانۍ

**تشریح:** په افغان یونایتید بانک کې د فیس تحویلول. دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړ ادارې (آیسا) اودافغانستان دسوداګریزوفعالیتونودمرکزي ثبت ریاست دادغام له کبله په دې پړاوکې دبدلونونوراتللوامکان شته.

### پنځم پړاو: دافغانستان دسوداګریزو فعالیتونو د مرکزي ثبت ریاست کې د نوي شرکت ثبتول

**موده:** ۱ ورځ

**لګښت:** هیڅ (لګښت په شپږم پړاو کې ورکول کیږي)

**تشریح:** د جواز غوښتونکی د آیسا مکتوب په مزارشریف کې دافغانستان دسوداګریزوفعالیتونودمرکزي ثبت ریاست اړوندې څانګې ته سپاري او په دې توګه د خپل شرکت د ثبت وړاندیزکوي. دا څانګه یو لاسلیک شوی مکتوب او د ۴۵۰۰ افغانیو یوه تعرفه ورکوي چې دا پیسې باید په همدې ودانۍ کې ددې څانګې مالي مسؤل ته وسپارل شي. دسوداګریزوفعالیتونودمرکزي ثبت ریاست تر ادارې لاندې د جوازونو د ورکولو د پروسو په یوځای کولو (ادغام) سره، د سوداګریز جواز ثبت په مستقیم ډول دسوداګریزوفعالیتونودمرکزي ثبت ریاست لخوا ترسره کیږي.

### شپږم پړاو: دثبت او خپرولو د فیس ورکول

**موده:** ۱ ورځ

**لګښت:** ۴۵۰۰ افغانۍ (۲۰۰۰ افغانۍ د ثبت + ۲۵۰۰ افغانۍ د خپرولو لپاره)

**تشریح:** د ثبت فیس او د شرکت د مشارکت په هکله په رسمي جریده کې د خبرتیا د خپرولو لګښت په مزارشریف کې دسوداګریزوفعالیتونودمرکزي ثبت ریاست اړوندې څانګې ته سپارل کیږي. د خبرتیا د خپرولو لګښت د خبرتیا د اوږدوالي له اندازې سره سم توپیرکوي. دافغانستان دپانګې اچونې د ملاتړادارې (آیسا) اودافغانستان دسوداګریزو فعالیتونو د مرکزي ثبت ریاست دادغام له کبله په دې پړاوکې دبدلونونوراتللوامکان شته.

### اووم پړاو: له مالیې وزارت نه "د مالیه ورکوونکي د پیژندنې نمبر" غوښتنه او ترلاسه کول

**موده:** ۱ ورځ

**لګښت:** هیڅ

**تشریح:** د ۲۰۱۶ کال تر ډیسمبر پورې تګلاره داسې وه چې دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړادارې (آیسا) یو مامور به د همدې ادارې لخوا یو مکتوب د مالیې وزارت ته لیږه چې د نوي شرکت لپاره د مالیه ورکوونکي د پیژندنې نمبر واخلي.دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړ ادارې (آیسا) اود افغانستان دسوداګریزو فعالیتونو د مرکزي ثبت ریاست دادغام له کبله په دې پړاوکې دبدلونونوراتللوامکان شته.

### اتم پړاو: د جواز ترلاسه کول

**موده:** ۱ ورځ

**لګښت:** هیڅ (لګښت په څلورم پړاو کې ورکړل شوی دی)

**تشریح:** پخوا د سوداګرۍ د ثبت سرټیفیکیټ چاپ او پانګه اچوونکي ته ورکول کیده. دا سرټیفیکیټ شرکت ته اجازه ورکوي چې خپلې سوداګریزې چارې پیل کړي. دسوداګریزوفعالیتونودمرکزي ثبت ریاست تر ادارې لاندې د جوازونو د ورکولو د پروسو په یوځای کولو(ادغام) سره، د سوداګرۍ نوي جوازونه دسوداګریزوفعالیتونودمرکزي ثبت ریاست لخوا ورکول کیږي او د ثبت سرټیفیکیټونو ته به نوره اړتیا نه وي.

د سوداګرۍ (کاروبار) پیلول

## هرات (هرات)

*د شرکت ستندرد حقوقي شخصیت: خصوصي محدودالمسئولیته شرکت*
*حداقل اړینه پانګه: هیڅ*
*د معلوماتو د خپریدلو د پیل نیټه: د ۲۰۱۶ کال له نومبر میاشتې راپیدخوا*

### لومړی پړاو: له کور نه بهر وتلو لپاره له خاوند نه اجازه ترلاسه کول

**موده:** ۱ ورځ
**لګښت:** هیڅ
**تشریح:** د افغانستان د مدني قانون د ۱۹۷۷ مادي پربنسټ، که یوه واده شوې ښځه له خپل استوګنځي نه د خاوند له اجازې او یا له جایزو موخو پرته ووځي نو د نفقې مستحقه نه ده.

### دویم پړاو: د شرکت د نوم او د شرکت د خاوندانو د مالي وړتیا څېړل

**موده:** ۱ ورځ
**لګښت:** هیڅ
**تشریح:** د ۲۰۱۶ کال تر ډیسمبر پورې، چې دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آیسا) عملیاتي چارې په تدریجي توګه د افغانستان دسوداګریزو فعالیتونو د مرکزي ثبت ریاست ته په سوداګرۍ او صنایعو وزارت کې ولیږدول شوې، په هرات کې دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آیسا) یو سیمه ایز مامور به په کابل کې دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آیسا) مرکزي دفتر ته یو ایمیل لیږه او د شرکت د وړاندیزشوي نوم د شتون په هکله او همدارز دشرکت د خاوندانو د مالي وړتیا په اړه به یې ترې تائید غوښته. دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آیسا) او د افغانستان دسوداګریزوفعالیتونومرکزي ثبت ریاست د ادغام له کبله په دې پړاو کې د بدلونونو راتللو امکان شته.

### درېیم پړاو: د جواز اخیستو لپاره غوښتنلیک سپارل او د شرکت د ثبت لپاره د یو مکتوب ترلاسه کول

**موده:** ۱ ورځ
**لګښت:** هیڅ
**تشریح:** د جواز غوښتونکی، په عام ډول د شرکت رئیس، یو داسې غوښتنلیک چې لاندې معلومات پکې لیکلي او سندونه ورسره یوځای وي، وړاندې کوي:

- د شرکت د خاوندانو نومونه او دعوی د تذکرو کاپي
- د شرکت د خاوندانو اویا د بورډ دغړو عکسونه
- د شرکت حقوقي شخصیت یا پیژندنه (د بیلګې په توګه، شخصي مالکیت، حقوقي شرکت یا محدودالمسئولیته شرکت)
- د مشارکت شرطونه (مادي)
- د شرکت نوم او پته (د کرایې/اجارې تړون)

د ۲۰۱۶ کال تر ډیسمبر پورې، دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آیسا) د ۲۸۴۷ افغانۍ تعرفه ورکوله چې دا پیسې باید په افغان یونایتید بانک کې تحویل شوې وای. کله چې به دا پیسې تحویل شوې نو د جواز غوښتونکي به یو مکتوب ترلاسه کړ چې په مرسته یې خپل شرکت د افغانستان دسوداګریزوفعالیتونودمرکزي ثبت ریاست کې ثبت کړي. دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آیسا) اودافغانستان دسوداګریزوفعالیتونودمرکزي ثبت ریاست دادغام له کبله په دې پړاوکې دبدلونونوراتللوامکان شته.

### څلورم پړاو: د جواز اخیستو لپاره فیس ورکول

**موده:** ۱ ورځ
**لګښت:** ۲۸۴۷ افغانۍ
**تشریح:** په افغان یونایتید بانک کې د فیس تحویلول. دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آیسا) اودافغانستان دسوداګریزوفعالیتونودمرکزي ثبت ریاست دادغام له کبله په دې پړاوکې دبدلونونوراتللوامکان شته.

### پنځم پړاو: دافغانستان دسوداګریزو فعالیتونو دمرکزي ثبت ریاست کې د نوي شرکت ثبتول

**موده:** ۱ ورځ
**لګښت:** هیڅ (لګښت په شپږم پړاو کې ورکول کیږي)
**تشریح:** د جواز غوښتونکی د آیسا مکتوب په هرات کې دافغانستان دسوداګریزو فعالیتونودمرکزي ثبت ریاست اړوندې څانګې ته سپاري او په دې توګه د خپل شرکت د ثبت وړاندیزکوي. دا څانګه یو لاسلیک شوی مکتوب او د ۴۵۰۰ افغانیو یوه تعرفه ورکوي چې دا پیسې باید په همدې ودانۍ کې ددې څانګې مالي مسؤل ته وسپارل شي. دسوداګریزوفعالیتونو دمرکزي ثبت ریاست تر اداري لاندې د جوازونو ورکولو د پروسو په یوځای کولو (ادغام) سره، د سوداګریز جواز ثبت په مستقیم ډول دسوداګریزو فعالیتونو دمرکزي ثبت ریاست لخوا ترسره کیږي.

### شپږم پړاو: دثبت او خپرولو د فیس ورکول

**موده:** ۱ ورځ
**لګښت:** ۴۵۰۰ افغانۍ (۲۰۰۰ افغانۍ د ثبت + ۲۵۰۰ افغانۍ د خپرولو لپاره)
**تشریح:** د ثبت فیس او د شرکت د مشارکت په هکله په رسمي جریده کې د خبرتیا د خپرولو لګښت په هرات کې دسوداګریزو فعالیتونو دمرکزي ثبت ریاست اړوندې څانګې ته سپارل کیږي. د خبرتیا د خپرولو لګښت د خبرتیا د اوږدوالي له اندازې سره سم توپیرکوي. دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړ اداري (آیسا) اود افغانستان دسوداګریزو فعالیتونو دمرکزي ثبت ریاست دادغام له کبله په دې پړاوکې دبدلونونو راتللوامکان شته.

### اووم پړاو: له مالیې وزارت نه "د مالیه ورکوونکي د پیژندنې نمبر" غوښتنه او ترلاسه کول

**موده:** ۲ ورځې
**لګښت:** هیڅ
**تشریح:** د ۲۰۱۶ کال تر ډیسمبر پورې تګلاره داسې وه چې دافغانستان دپانګې اچونې د ملاتړ اداري (آیسا) یو مامور به د همدې ادارې لخوا یو مکتوب د مالیې وزارت ته لیږه چې د نوي شرکت لپاره د مالیه ورکوونکي د پیژندنې نمبر واخلي. د افغانستان دپانګې اچونې دملاتړ اداري (آیسا) اود افغانستان دسوداګریزو فعالیتونو د مرکزي ثبت ریاست د ادغام له کبله په دې پړاو کې دبدلونونوراتللوامکان شته.

### اتم پړاو: د جواز ترلاسه کول

**موده:** ۱ ورځ
**لګښت:** هیڅ (لګښت په څلورم پړاو کې ورکړل شوی دی)
**تشریح:** پخوا د سوداګرۍ د ثبت سرتیفیکیټ چاپ او پانګه اچوونکي ته ورکول کیده. دا سرتیفیکیټ شرکت ته اجازه ورکوي چې خپلې سوداګریزې چارې پیل کړي. دسوداګریزو فعالیتونودمرکزي ثبت ریاست تر اداري لاندې د جوازونو ورکولو د پروسو په یوځای کولو(ادغام) سره، د سوداګرۍ نوي جوازونه دسوداګریزوفعالیتونودمرکزي ثبت ریاست لخوا ورکول کیږي او د ثبت سرتیفیکیټونو ته به نوره اړتیا نه وي.

د سوداګرۍ (کاروبار) پیلول

## کابل (کابل)

*د شرکت ستندرد حقوقي شخصیت: خصوصي محدودالمسئولیته شرکت*
*حداقل اړینه پانګه: هیڅ*
*د معلوماتو د خپریدلو د پیل نیټه: د ۲۰۱۶ کال له جون میاشتې راپیدخوا*

### لومړی پړاو: له کور نه بهر وتلو لپاره له خاوند نه اجازه ترلاسه کول

**موده:** ۱ ورځ
**لګښت:** هیڅ
**تشریح:** د افغانستان د مدني قانون د ۱۹۷۷ مادي پربنسټ، که یوه واده شوې ښځه له خپل استوګنځي نه د خاوند له اجازې او یا له جایزو موخو پرته ووځي نو د نفقې مستحقه نه ده.

### دویم پړاو: د شرکت ثبتول او "د مالیه ورکوونکي د پیژندنې نمبر" ترلاسه کول

**موده:** ۳ ورځې
**لګښت:** هیڅ (لګښت په دریم پړاو کې ورکول کیږي)
**تشریح:** د جواز غوښتونکی به د شرکت د ثبت لپاره لاندې معلومات او سندونه وړاندې کوي:

- د غوښتنلیک فورمه (په آنلاین ډول د لاسرسی وړ ده)
- د شرکت د رئیس یا رئیسانو د تذکرو یا پاسپورټونو کاپي
- د رئیس یا رئیسانو دوه سیټه پاسپورټ سایزرنګه عکسونه
- د مشارکت شرطونه (مادي)
- د مالیې ورکوونکي د پیژندنې د نمبر فورمه

د ټولو نویو سوداګریو او پانګونو په هکله جزئیات د افغانستان دسوداګریزو فعالیتونو د مرکزي ثبت ریاست پواسطه راټول او بیا د عدلیې وزارت

ته په رسمي جريدې (ګزيټ) کې د خپرولو په موخه استول کيږي. د خبرتيا متن د افغانستان دسوداګريزوفعاليتونودمرکزي ثبت رياست لخوا جوړيږي څو که سوداګر هم وغواړي نو کولای شي پخپله متن برابرکړي. په دې متن کې چې په جريده (ګزيټ) کې به خپريږي، لُرترلره، دا لاندې معلومات راځي:

- د شرکت نوم
- د شرکت د رئيس او مرستيال نومونه
- موقعيت (ځای)
- لومړنی پانګه
- د کاروبار ډول
- د فعاليت ډول

## دریم پړاو: دثبت، خپرولو او جواز اخيستلو فيس ورکول

**موده:** ۱ ورځ

**لګښت:** ۷۳۴۷ افغانۍ (۲۰۰۰ افغانۍ د ثبت + ۲۵۰۰ افغانۍ د خپرولو+ ۲۸۴۷ افغانۍ د جواز لپاره)

**تشريح:** فيسونه مالي مسئول ته چې په همدې ودانۍ کې موقعيت لري ورکول کيږي.

## څلورم پړاو: د جواز ترلاسه کول

**موده:** ۳ ورځې

**لګښت:** هيڅ (۲۸۴۷ افغانۍ لګښت په دريم پړاو کې ورکړل شوی دی)

**تشريح:** کله چې غوښتنليک ومنل شي او فيسونه مالي مسؤل ته تحويل کړای شي نو د پانګونې جواز ترلاسه کيږي.

د سوداګرۍ (کاروبار) پيلول

# کندهار (کندهار)

*د شرکت ستندرد حقوقي شخصيت: خصوصي محدودالمسئوليته شرکت*

*حداقل اړينه پانګه: هيڅ*

*د معلوماتو د خپريدلو د پيل نيټه: د ۲۰۱۶ کال له نومبر مياشتې راپديخوا*

## لومړی پړاو: له کور نه بهر وتلو لپاره له خاوند نه اجازه ترلاسه کول

**موده:** ۱ ورځ

**لګښت:** هيڅ

**تشريح:** د افغانستان د مدني قانون د ۱۹۷۷ مادې پربنسټ، که يوه واده شوې ښځه له خپل هستوګنځي نه د خاوند له اجازې او يا له جايزو موخو پرته ووځي نو د نفقې مستحقه نه ده.

## دويم پړاو: د شرکت د نوم او د شرکت د خاوندانو د مالي وړتيا ځېړل

**موده:** ۱ ورځ

**لګښت:** هيڅ

**تشريح:** د ۲۰۱۶ کال تر ډيسمبر پورې، چې دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آيسا) عملياتي چارې په تدريجي توګه د افغانستان دسوداګريزوفعاليتونودمرکزي ثبت رياست ته وليږدول شوې، په کندهار کې دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آيسا) يو سيمه ايز مامور به په کابل کې دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آيسا) مرکزي دفتر ته يو ايميل (بريښنالیک) ليږه او د شرکت د وړانديزشوي نوم د شتون په هکله او همدارز دشرکت د خاوندانو د مالي وړتيا په اړه به يې ترې تائيد غوښته. دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آيسا) او د افغانستان دسوداګريزوفعاليتونو دمرکزي ثبت رياست د ادغام له کبله په دې پړاو کې د بدلونونو راتللو امکان شته.

## دريم پړاو: د جواز اخيستو لپاره غوښتنليک سپارل او د شرکت د ثبت لپاره د يو مکتوب ترلاسه کول

**موده:** ۱ ورځ

**لګښت:** هيڅ

**تشريح:** د جواز غوښتونکی، يو داسې غوښتنليک چې لاندې معلومات پکې ليکلي او سندونه ورسره يوځای وي، وړاندې کوي:

- د شرکت د خاوندانو نومونه او دهغوی د تذکرو کاپي
- د شرکت د خاوندانو اويا د بورډ دغړو عکسونه
- د شرکت حقوقي شخصيت يا پيژندنه (د بيلګې په توګه، شخصي مالکيت، حقوقي شرکت يا محدودالمسئوليته شرکت)
- د مشارکت شرطونه (مادې)
- د شرکت نوم او پته (د کرايې/اجارې ترون)

د ۲۰۱۶ کال تر ډيسمبر پورې، دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آيسا) د ۲۸۴۷ افغانيو تعرفه ورکوله چې دا پيسې بايد په افغان يونايټيد بانک کې تحويل شوې واې. کله چې به دا پيسې تحويل شوې نو د جواز غوښتونکی به يو مکتوب ترلاسه کړ چې په مرسته يې خپل شرکت د افغانستان دسوداګريزوفعاليتونودمرکزي ثبت رياست کې ثبت کړي. دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آيسا) اودافغانستان دسوداګريزوفعاليتونودمرکزي ثبت رياست دادغام له کبله په دې پړاوکې دبدلونونوراتللوامکان شته.

## څلورم پړاو: د جواز اخيستو لپاره فيس ورکول

**موده:** ۱ ورځ

**لګښت:** ۲۸۴۷ افغانۍ

**تشريح:** په افغان يونايټيد بانک کې د فيس تحويلول. دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آيسا) اودافغانستان دسوداګريزوفعاليتونودمرکزي ثبت رياست دادغام له کبله په دې پړاوکې دبدلونونوراتللوامکان شته.

## پنځم پړاو: دافغانستان دسوداګريزو فعاليتونو دمرکزي ثبت رياست کې د نوي شرکت ثبتول

**موده:** ۱ ورځ

**لګښت:** هيڅ (لګښت په شپږم پړاو کې ورکول کيږي)

**تشريح:** د جواز غوښتونکی د آيسا مکتوب په کندهار کې دافغانستان دسوداګريزو فعاليتونودمرکزي ثبت رياست اړوندې څانګې ته سپاري او په دې توګه د خپل شرکت د ثبت وړانديزکوي. دا څانګه يو لاسليک شوی مکتوب او د ۴۵۰۰ افغانيو يوه تعرفه ورکوي چې دا پيسې بايد په همدې ودانۍ کې ددې څانګې مالي مسؤل ته وسپارل شي. دسوداګريزوفعاليتونو د مرکزي ثبت رياست تر اداري لاندې د جوازونو ورکولو د پروسو په يوځای کولو (ادغام) سره، د سوداګريز جواز ثبت په مستقيم ډول دسوداګريزو فعاليتونو دمرکزي ثبت رياست لخوا ترسره کيږي.

## شپږم پړاو: دثبت او خپرولو د فيس ورکول

**موده:** ۱ ورځ

**لګښت:** ۴۵۰۰ افغانۍ (۲۰۰۰ افغانۍ د ثبت + ۲۵۰۰ افغانۍ د خپرولو لپاره)

**تشريح:** د ثبت فيس او د شرکت د مشارکت په هکله په رسمي جريده کې د خبرتيا د خپرولو لګښت په کندهار کې دسوداګريزو فعاليتونو دمرکزي ثبت رياست اړوندې څانګې ته سپارل کيږي. د خبرتيا د خپرولو لګښت د خبرتيا د اوږدوالي له اندازې سره سم توپيرکوي. دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړ اداري (آيسا) اود افغانستان دسوداګريزو فعاليتونو دمرکزي ثبت رياست دادغام له کبله په دې پړاوکې دبدلونونو راتللوامکان شته.

## اووم پړاو: له مالي وزارت نه "د ماليه ورکوونکي د پيژندنې نمبر" غوښتنه او ترلاسه کول

**موده:** ۱ ورځ

**لګښت:** هيڅ

**تشريح:** د ۲۰۱۶ کال تر ډيسمبر پورې تګلاره داسې وه چې دافغانستان دپانګې اچونې د ملاتړ اداري (آيسا) يو مامور به د همدې اداري لخوا يو مکتوب د مالي وزارت ته ليږه چې د نوي شرکت لپاره د ماليه ورکوونکي د پيژندنې نمبر واخلي. دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړ اداري (آيسا) اودافغانستان دسوداګريزو فعاليتونو د مرکزي ثبت رياست دادغام له کبله په دې پړاو کې دبدلونونوراتللوامکان شته.

## اتم پړاو: د جواز ترلاسه کول

**موده:** ۱ ورځ

**لګښت:** هيڅ (لګښت په څلورم پړاو کې ورکړل شوی دی)

**تشريح:** پخوا د سوداګرۍ د ثبت سرټيفيکيټ چاپ او پانګه اچوونکي ته ورکول کيده. دا سرټيفيکيټ شرکت ته اجازه ورکوي چې خپلې سوداګريزې چارې پيل کړي. دسوداګريزو فعاليتونو د مرکزي ثبت رياست تر اداري لاندې د جوازونو ورکولو د پروسو په يوځای کولو(ادغام) سره، د سوداګرۍ نوي جوازونه دسوداګريزو فعاليتونو د مرکزي ثبت رياست لخوا ورکول کيږي او د ثبت سرټيفيکيټونو ته به نوره اړتيا نه وي.

د سوداګرۍ (کاروبار) پیلول

## ننګرهار (جلال آباد)

*د شرکت ستندرد حقوقي شخصیت: خصوصي محدودالمسئولیته شرکت*
*حداقل اړینه پانګه: هیڅ*
*د معلوماتو د خپرېدلو د پیل نیټه: د ۲۰۱۶ کال له نومبر میاشتې راپدېخوا*

### لومړی پړاو: له کور نه بهر وتلو لپاره له خاوند نه اجازه ترلاسه کول

**موده:** ۱ ورځ
**لګښت:** هیڅ
**تشریح:** د افغانستان د مدني قانون د ۱۹۷۷ مادې پربنسټ، که یوه واده شوې ښځه له خپل هستوګنځي نه د خاوند له اجازې او یا له جایزو موخو پرته ووځي نو د نفقې مستحقه نه ده.

### دویم پړاو: د شرکت د نوم او د شرکت د خاوندانو د مالي وړتیا څېړل

**موده:** ۱ ورځ
**لګښت:** هیڅ
**تشریح:** د ۲۰۱۶ کال تر ډیسمبر پورې، چې دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آیسا) عملیاتي چارې په تدریجي توګه د افغانستان دسوداګریزوفعالیتونودمرکزي ثبت ریاست ته ولیږدول شوې، په جلال آباد کې دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آیسا) یو سیمه ایز مامور به په کابل کې دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آیسا) مرکزي دفتر ته یو ایمیل لیږه او د شرکت د وړاندیزشوي نوم د شتون په هکله او همدارز دشرکت د خاوندانو د مالي وړتیا په اړه به یې تری تائید غوښته. دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آیسا) او د افغانستان دسوداګریزوفعالیتونو دمرکزي ثبت ریاست د ادغام له کبله په دې پړاو کې د بدلونونو راتللو امکان شته.

### دریم پړاو: د جواز اخیستو لپاره غوښتنلیک سپارل او د شرکت د ثبت لپاره د یو مکتوب ترلاسه کول

**موده:** ۱ ورځ
**لګښت:** هیڅ
**تشریح:** د جواز غوښتونکی، په عام ډول د شرکت رئیس، یو داسې غوښتنلیک چې لاندې معلومات پکې لیکلي او سندونه ورسره یوځای وي، وړاندې کوي:

- د شرکت د خاوندانو نومونه او دهغوی د تذکرو کاپي
- د شرکت د خاوندانو اویا د بورډ دغړو عکسونه
- د شرکت حقوقي شخصیت یا پېژندنه (د بېلګې په توګه، شخصي مالکیت، حقوقي شرکت یا محدودالمسئولیته شرکت)
- د مشارکت شرطونه (مادې)
- د شرکت نوم او پته (د کرایې/اجارې تړون)

د ۲۰۱۶ کال تر ډیسمبر پورې، دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آیسا) د۲۸۴۷ افغانیو تعرفه ورکوله چې دا پیسې باید په افغان یونایټید بانک کې تحویل شوې وای. کله چې به دا پیسې تحویل شوې نو د جواز غوښتونکي به یو مکتوب ترلاسه کړ چې په مرسته یې خپل شرکت د افغانستان دسوداګریزو فعالیتونو دمرکزي ثبت ریاست کې ثبت کړي. دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړ اداري (آیسا) اودافغانستان دسوداګریزو فعالیتونو دمرکزي ثبت ریاست دادغام له کبله په دې پړاوکې دبدلونونو راتللوامکان شته.

### څلورم پړاو: د جواز اخیستو لپاره فیس ورکول

**موده:** ۱ ورځ
**لګښت:** ۲۸۴۷ افغانۍ
**تشریح:** په افغان یونایټید بانک کې د فیس تحویلول. دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړاداري (آیسا) اودافغانستان دسوداګریزوفعالیتونودمرکزي ثبت ریاست دادغام له کبله په دې پړاوکې دبدلونوراتللوامکان شته.

### پنځم پړاو: دافغانستان دسوداګریزو فعالیتونو دمرکزي ثبت ریاست کې د نوي شرکت ثبتول

**موده:** ۱ ورځ
**لګښت:** هیڅ (لګښت په شپږم پړاو کې ورکول کیږي)
**تشریح:** د جواز غوښتونکی د آیسا مکتوب په جلال آباد کې دافغانستان دسوداګریزو فعالیتونودمرکزي ثبت ریاست اړوندې څانګې ته سپاري او په دې توګه د خپل شرکت د ثبت وړاندیزکوي. دا څانګه یو لاسلیک شوی مکتوب او د ۴۵۰۰ افغانیو یوه تعرفه ورکوي چې دا پیسې باید په همدې ودانۍ کې دې څانګې مالي مسؤل ته وسپارل شي. دسوداګریزوفعالیتونودمرکزي ثبت ریاست تر اداري لاندې د جوازونو ورکولو د پروسو په یوځای کولو (ادغام) سره، د سوداګریز جواز ثبت په مستقیم ډول دسوداګریزو فعالیتونو دمرکزي ثبت ریاست لخوا ترسره کیږي.

### شپږم پړاو: دثبت او خپرولو د فیس ورکول

**موده:** ۱ ورځ
**لګښت:** ۴۵۰۰ افغانۍ (۲۰۰۰ افغانۍ د ثبت + ۲۵۰۰ افغانۍ د خپرولو لپاره)
**تشریح:** د ثبت فیس او د شرکت د مشارکت په هکله په رسمي جریده کې د خبرتیا د خپرولو لګښت په جلال آباد کې دسوداګریزو فعالیتونو دمرکزي ثبت ریاست اړوندې څانګې ته سپارل کیږي. د خبرتیا د خپرولو لګښت د خبرتیا د اوږدوالي له اندازې سره سم توپیرکوي. دافغانستان دپانګې اچونې دملاتړ اداري (آیسا) اود افغانستان دسوداګریزو فعالیتونو دمرکزي ثبت ریاست دادغام له کبله په دې پړاوکې دبدلونونو راتللوامکان شته.

### اووم پړاو: له مالیې وزارت نه "د مالیه ورکوونکي د پېژندنې نمبر" غوښتنه او ترلاسه کول

**موده:** ۲ ورځې
**لګښت:** هیڅ
**تشریح:** د ۲۰۱۶ کال تر ډیسمبر پورې تګلاره داسې وه چې دافغانستان دپانګې اچونې د ملاتړ اداري (آیسا) یو مامور به د همدې ادارې لخوا یو مکتوب د مالیې وزارت ته لیږه چې د نوي د شرکت لپاره د مالیه ورکوونکي د پېژندنې نمبر واخلي. دافغانستان دپانګې اچونې د ملاتړ اداري (آیسا) او د افغانستان دسوداګریزو فعالیتونو د مرکزي ثبت ریاست د ادغام له کبله په دې پړاو کې د بدلونونو راتللوامکان شته.

### اتم پړاو: د جواز ترلاسه کول

**موده:** ۱ ورځ
**لګښت:** هیڅ (لګښت په څلورم پړاو کې ورکړل شوی دی)
**تشریح:** پخوا د سوداګرۍ د ثبت سرټیفیکیټ چاپ او پانګه اچوونکي ته ورکول کېده. دا سرټیفیکیټ شرکت ته اجازه ورکوي چې خپلې سوداګریزې چارې پیل کړي. دسوداګریزو فعالیتونو د مرکزي ثبت ریاست تر اداري لاندې د جوازونو د ورکولو د پروسو په یوځای کولو(ادغام) سره، د سوداګرۍ نوي جوازونه دسوداګریزو فعالیتونو دمرکزي ثبت ریاست لخوا ورکول کیږي او د ثبت سرټیفیکیټونو ته به نوره اړتیا نه وي.

د ودانیز جواز د ترلاسه کولو پړاوونه

## بلخ (مزار شریف)

*د پړاوونو نومليړ*
*د ودانیز جواز د ترلاسه کولو پړاوونه*
*بلخ (مزارشریف)*
*د ګدام ارزښت: ۱،۸۷۹،۹۴۳ (۳۱،۵۰۰ امریکایي ډالر)*
*د معلوماتو د خپرېدلو د پیل نیټه: د ۲۰۱۶ کال له نومبر میاشتې راپدېخوا*

### لومړی پړاو: ښاروالۍ ته د ودانۍ د جوړولو د جواز غوښتنلیک سپارل

**موده:** لس ورځې
**لګښت:** هیڅ
**تشریح:** د دې لپاره چې ودانیز جواز ترلاسه شي، ودانیز شرکت د ښاروالۍ اداري ته د ځمکې د قبالې سره یوځای، غوښتنلیک سپاري. د ښاروالۍ مسوول دغه غوښتنلیک د نورو پړاوونو د ترسره کولو لپاره اړونده څانګې ته راجع کوي. ښاروالي یو انجنیر ګوماري، چې سیمې ته ولاړ شي او د اړونده ځمکې تفتیش او پلټنه وکړي. څرنګه چې ښاروالي یوازې محدود شمیر ساحوي انجنیران لري، له دې امله د پلټنې یا تفتیش د انتظار موده کېدای شي، چې له پنځو څخه تر اوه ورځو پورې وخت ونیسي.

### دویم پړاو: د ځمکې د نومرې او د سیمې څېړنه

**موده:** یوه ورځ
**لګښت:** هیڅ

**تشریح:** د ودانیز شرکت له استازي سره یوځای د ښاروالۍ انجنیر د ځمکې له نومرې څخه لیدنه کوي او موقعیت، کچه او حدود یې په ګوته کوي او دا ارزونه کوي، چې آیا ځمکه په عامه استوګنځای او یا د سوداګرۍ په سیمه کې پرته ده.

## دریم پړاو: د ځمکې/نومرې د سکیچ اخیستنه او له ښاروالۍ څخه د لومړنۍ منظورۍ ترلاسه کول

**موده:** درې ورځې
**لګښت:** هیڅ
**تشریح:** له تفتیش وروسته د انجنیرۍ پلاوی د ځمکې سکیچ برابروي او د متقاضي د غوښتنلیک له توکو سره یې ضمیمه کوي. د ښاروالۍ اړونده څانګه د غوښتنلیک لومړی منظوري کوي او ودانیز شرکت ته یې ورکوي؛ تر څو د ښاري پرمختیا ریاست (د ښاري پرمختیا وزارت ولایتي څانګې) ته د نورو پړاوونو د بشپړولو لپاره یې وسپاري.

## څلورم پړاو: د ښاري پرمختیا د ریاست څخه د لومړنۍ منظورۍ ترلاسه کول.

**موده:** ۲۰ ورځې
**لګښت:** ۱۵،۸۳۶ افغانۍ
**تشریح:** ودانیز شرکت د ښاري پرمختیا ریاست ته غوښتنلیک سپاري. د ښاري پرمختیا ریاست د ماستر پلان کتنه کوي، چې ایا دغه موقعیت د ګدام لپاره مناسب دی (ځودا په ګوته شي، چې دغه نومره د عامه استوګنې په سیمه کې ده، او که سوداګریزه سیمه ده). که چیرې پایلې مثبتې وې؛ نو د ښاري پرمختیا ریاست د ودانیز شرکت له استازي څخه غوښتنه ترسره کوي چې لاندې اسناد ور وسپاري.

- د ځمکې د نومرې سکیچ
- مهندسي نقشه
- د اړونده آسانتیاو نقشه یا پلان ( بریښنا، اوبه، د فاضلابو د لیرې کولو او د تهویه سیستمونه)
- د پروژې تخمیني لګښت
- د مهندسي او انجنیري نقشو د مسؤل انجنیر یا د پروژې د طرح کوونکي د ډیپلوم کاپي
- د ودانیز شرکت د جواز کاپي، چې د افغانستان د پانګه اچونې د ملاتړ اداري (ایسا) له لوري صادره شوې وي.

کله چې ودانیز شرکت ټول اړین اسناد د ښارې پرمختیا ریاست ته وسپاري، د دغه ریاست د مهندسی څانګه به د بهرني (سرکونو، د پلې تګ لارې ) او داخلي (خوني، دهلیزونو) نقشې و ارزوي. که چیرې کومه ستونزه پکښې ومونډل شې؛ نو نقشې به د اصلاح لپاره بیرته ودانیز شرکت ته واستول شي.

دغه نقشې بیا د ښاري پرمختیا ریاست د د ودانیزو چارو ریاست له لوري کتل کیږي او د وداني جوړېښتیزه ځواکمنتیا ارزول کیږي.همدارنګه د نوموړي ریاست د تخنیکي څانګې له لوري یې د ملحقاتو پلانونه هم څېړل کیږي

د ښاري پرمختیا ریاست د مالي آمریت څانګه د نقشو د بیا کتنه د فیس د ټاکنې معیار له مخې حسابوي او متقاضي ته یو بل ورکوي، چې افغانستان بانک کې یې تادیه کړي.

د فیس د حسابولو لپاره فورمول په لاندې ډول دي (سوداګریزو ودانیو لپاره):

د ودانۍ حجم (په متر مکعب)X افغانۍ۰,۰۲X۰,۰۳۵X۴۷۰۰.

د بیلګې په توګه: د یو ګدام لپاره چې حجم یې ۳۹۰۱,۵ مترمکعبه وي، فیس یې ۱۲۸۳۶ افغانۍ کیږي.

سربیره پردې، د ښاري پرمختیا ریاست غوښتنلیک کوونکی ملزم بولي ترڅو د تخنیکي پلان د بیا کتنې لپاره انجنیرانو ته دوه ورځنۍ فیس په پام کې ونیسي. څرنګه چې دغه فیس د ورځې ۱۵۰۰ افغانۍ محاسبه کیږي. په توليزه توګه ودانیز شرکت باید ۱۵۸۳۶ افغانۍ (۱۲۸۳۶ د بیاکتنې فیس + ۳۰۰۰ افغانۍ د انجنیر فیس) ورکړي.

کله چې د ټولو نقشو بیا کتنه ترسره شي، د ښاري پرمختیا ریاست د سیمې د پلان چاپوې او د ودانۍ حدود او شاخصونه مشخص کوي. ودانیز شرکت د سیمې د پلان په برخه کې یو سند لاسلیک کوي، په هغه کې ژمنه کوي، چې ودانۍ به په نبنه شوي ځمکه کې او د منظور شوي پلان پر بنسټ جوړوي. د ښاري پرمختیا ریاست د دغه سند درې کاپیانې جوړوي، چې-یوه کاپي به د ښاروالي د ودانیزو چارو څانګې، دویمه کاپي به ودانیز شرکت او دریمه کاپي به د ریاست په سجلو کې ساتل کیږي.

په دغه پړاو کې د ډېر فساد خطر شتون لري او د دغه پړاو د چټکۍ لپاره د ۵۰۰ تر ۱۰۰۰ ډالرو رشوت ډېر معمول دی. په پاملرنې سره چې د doing business پروژه په هیڅ بڼه اخاذۍ او غیر رسمي او غیر موجه غوښتنې نه ثبتوي.

## پنځم پړاو: له ښاروالۍ څخه د ودانیز جواز ترلاسه کول

**موده:** ۳۰ ورځې
**لګښت:** ۷۴۰۳۱ افغانۍ
**تشریح:** ودانیز شرکت منظور شوې کځوره ښاروال ته وړي، چې ښاروال بیا دغه غوښتنلیک لاسلیک او د ښاروالۍ تخنیکي څانګې ته یې استوي. تخنیکي څانګه بیا دغه وړاندیز شوی ماستر پلان سره ګوري ، څو دا په ګوته کړي، چې د ښاري پلان د لاربنود په چوکاټ کې سمبال دی. بیا دغه غوښتنلیک د انجنیرۍ څانګې ته استوي، چې د ودانۍ د جواز فیس د ودانۍ د کچې له مخې حساب کړي.

د غوښتنلیک توکي بیا د ښاروالۍ د پلان جوړنې څانګې ته استول کیږي، دوې د دغو نقشو یوه کاپي جوړوي او بیا یې آرشیف کوي. د پلان جوړونې څانګه بیا یو مکتوب چې د ښاروال له لوري لاسلیک شوی وي، د عوایدو څانګې ته صادروي. د عوایدو څانګه د انجنیرۍ د څانګې د محاسبې له مخې یو بل جوړوي. کله چې ودانیز شرکت فیس ورکړي، ښاروالۍ اړونده ناحیې او د پولیسو حوزې ته یو رسمي مکتوب استوي، چې په دغه مکتوب کې دا لیکل کیږي، چې نوموړي ودانیز شرکت ته د ودانۍ جوړولو جواز ورکړل شوی دی.

د ودانۍ د جواز د فیس لپاره فورمول په لاندې ډول دی:

د ودانۍ حجم ( په متر مکعب) X۲۳۰۰/ X۷۵۰+۱۰۰،۰۰۰+a۱۰٪ فیس (د هغه انجنیر لپاره چې د غوښتنلیک بیاکتنه یې ترسره کړې ده).

د بیلګې په توګه: د یو ګدام لپاره چې حجم یې ۳،۹۰۱,۵ مترمکعبه وي، فیس یې ۷۴۰۳۱افغانۍ کیږي.

## شپږم پړاو: د ودانۍ د کار په مهال د ښاروالۍ له لوري ناڅاپي پلټنه

**موده:** یوه ورځ
**لګښت:** هیڅ
**تشریح:** ښاروالي هره میاشت یو ځل د ودانیزو چارو له بهیر څخه لیدنه کوي. پلټنه تر لومړیو ۷ میاشتو دوام کوي. د ښاروالۍ اداره دوه تنه انجنیران ګماري ترڅو یو لړ سرغړونې و ارزوي ( د ساري په توګه د نومرې د حدودو او د ودانۍ د لوړوالي څخه خو به کومه سرغړونه نه وي شوې). دغه انجنیران په نوبتي ډول سره دغه ډول تفتیش یا پلټنه په سیمه کې ترسره کوي، خو کوم ځانګړی مهال ویش نلري. په مزارشریف کې د ډېرو ودانیزو پروژو څېړنه د ښاروالۍ د ادارې د پلټنې لاندې دي.

## اوم پړاو: د ودانۍ د کار پر مهال د ښاروالي له لوري ناڅاپي پلټنه

**موده:** یوه ورځ
**لګښت:** هیڅ
**تشریح:** د شپږم پړاو لاندې تشریح وګورئ

## اتم پړاو: د ودانۍ د کار پر مهال د ښاروالي له لوري ناڅاپي پلټنه

**موده:** یوه ورځ
**لګښت:** هیڅ
**تشریح:** د شپږم پړاو تشریح وګورئ

## نهم پړاو: د ودانۍ د کار پر مهال د ښاروالي له لوري ناڅاپي پلټنه

**موده:** یوه ورځ
**لګښت:** هیڅ
**تشریح:** د شپږم پړاو تشریح وګورئ

## لسم پړاو: د ودانۍ د کار پر مهال د ښاروالي له لوري ناڅاپي پلټنه

**موده:** یوه ورځ
**لګښت:** هیڅ
**تشریح:** د شپږم پړاو تشریح وګورئ

## یوولسم پړاو: د تشریح د کار پر مهال د ښاروالي له لوري ناڅاپي پلټنه

**موده:** یوه ورځ
**لګښت:** هیڅ
**تشریح:**د شپږم پړاو تشریح وګورئ

## دولسم پړاو: د ودانۍ د کار پر مهال د ښاروالۍ له لوري ناڅاپي پلټنه او بیا کتنه

**موده:** یوه ورځ

**لګښت:** هیڅ

*تشریح: د شپږم پړاو تشریح وګورئ*

## دیارلسم پړاو: د اوبو لپاره د څاه کیندل

**موده:** اوه ورځې

**لګښت:** ۱۱۹،۳۶۱ افغانۍ

**تشریح:** په مزارشریف کې اوبه د ځمکې لاندې سرچینو او د څاه ګانو د کیندنې څخه ترلاسه کېږي. ودانیز شرکت مکلف دی چې خپله څاه ګانې وکیندي. ودانۍ جوړونکې په معمولي ډول تر ۳۰-۵۰ مترو پورې څاه کیندي، خو دا کار د پروژې په اړتیا پورې اړه لري.

څاه به د ودانیز شرکت او یا د شخصي قراردادي له لوري کیندل کیږي. د مزارشریف په ساحه کې ځمکه نرمه او خټینه ده، له دې امله د کیندلو لګښت په پرتلیزه توګه ټیټ دی. په منځنۍ کچه په مزارشریف کې ۵۰ متره څاه کیندل، ۲۰۰۰ امریکایي ډالره کیږي (یو متر په ۴۰ امریکایي ډالره) او نږدې یوه اونۍ وخت نیسي.

## څوارلسم پړاو: د فاضلابو لپاره د سپټیک څاه جوړول

**موده:** ۳۰ ورځې

**لګښت:** ۳۸۷،۹۲۵ افغانۍ

**تشریح:** څرنګه چې مزارشریف د فاضلابو منظم او جامع سیسټم نلري؛ نو ودانیز شرکت باید سپټیک څاه ګانې جوړې کړي. لګښت یې د سپټیکي څاه د کچې او د ودانیز په کیفیت پورې اړه لري. په منځنۍ کچه په مزارشریف کې یوه سپټیک څاه د ۶۵۰۰ امریکایي ډالرو په اندازه پریوځي او نږدې ۳۰ ورځو کې یې کار بشپړیږي. د سپټیک څاه د کیندنې چارې خپله ودانیز شرکت هم په غاړه اخیستلی شي او د خصوصي قراردادي له لوري یې هم ترسره کولی شي.

د ودانیز جواز د ترلاسه کولو پړاوونه

### هرات (هرات)

د ګدام ارزښت: ۱،۸۷۹،۹۴۳ افغانۍ ( معادل د ۳۱،۵۰۰ امریکایي ډالره)

د معلوماتو د خپریدلو د پیل نیټه: د ۲۰۱۶ کال له نومبر میاشتې راپدیخوا

## لومړی پړاو: ښاروالۍ ته د ودانۍ د جوړولو د جواز غوښتلیک سپارل

**موده:** ۲۱ ورځې

**لګښت:** هیڅ

**تشریح:** د دې لپاره، چې د ودانیزو چارو جواز تر لاسه شي، باید ودانیز شرکت د ښاروالۍ اداري ته د ځمکې د قبالې او اړونده نقشو سره یوځای، خپل غوښتنلیک وسپاري. ښاروال به غوښتنلیک لاسلیکوي او د ښاروالۍ د ودانیزه څانګې او د اړونده ناحیې مشر ته یې استوي. د ودانیزه څانګې دوه تنه استازې، یو د ملکیتونو له څانګې څخه او بل یې د عوایدو له څانګې څخه ګوماري. د اړونده ناحیې اداره هم یو تن انجنیر ګماري ترڅو سیمه ایزه چارې او ځمکه و ارزوي او د ځمکې د نومرې سکیچ چمتو کړي. د اړونده ادارو د مسوولینو د بوختیا له امله، د ځمکې د ارزونې او پلټنې د انتظار موده او د ودانۍ سیمه تر درې اونیو پورې وخت نیسي.

## دویم پړاو: د ځمکې د نومرې او د سیمې څیړنه

**موده:** یوه ورځ

**لګښت:** هیڅ

**تشریح:** د ودانیز شرکت له استازي سره یوځای د ښاروالۍ د ودانیزه څانګې دوه استازي او د ناحیې انجنیر له ساحې څخه لیدنه کوي. دوی په ګډه د ودانۍ لپاره وړاندیز شوې ځمکه څیړي او قبالې له اسنادو سره یې مطابقت ورکوي.انجنیر د نومرې او چارچاپیره سیمو انځورونه اخلي.

## دریم پړاو: د ځمکې/نومرې د سکیچ اخیستنه او له ښاروالۍ څخه د لومړنی منظورۍ ترلاسه کول

**موده:** اوه ورځې

**لګښت:** هیڅ

**تشریح:** د نومرې یا ځمکې د پلټنې وروسته، د ناحیې انجنیر د نومرې سکیچ برابروي او یو معیاري فورمه برابروي او د غوښتنلیک د کڅوړې په هره پاڼه لاسلیک کوي. د ناحیې انجنیر همدارنګه د نومرې هغه انځورونه، چې د نومرې د پلټنو پر مهال یې اخیستي وه، د نومرې له تفصیلي پلان سره یوځای، ضمیمه کوي. انجنیر دغه کڅوړه د ناحیې مشر ته سپاري، چې نوموړی بیا دغه توکي منظوروي، مُهر پرې لګوي او د ښاروالۍ د ودانیزو چارو ریاست ته یې استوي. نوموړی په دغه غوښتنلیک لاسلیک کوي او د پروسې د چټکوالي لپاره ټول دغه اسناد د ښاري پرمختیا ریاست ته د یو رسمي مکتوب په لیګلو سره سپاري.

د ښاروالۍ د ودانیزو چارو ریاست له لوري د قضیې لپاره دوه ګمارل شوي استازي د ځمکې اسناد په آرشیف کې ګوري او بیا له غوښتنلیک سره راپور ضمیمه کوي او هغه ودانیز ریاست ته سپاري. د نوموړي ریاست مسوول غوښتنلیک لاسلیک کوي او او ټوله کڅوړه د ښاري پرمختیا ریاست (د ښاري پرمختیا وزارت ولایتي څانګې) څانګې ته چمتو کوي او د متقاضي او د موقعیت په اړه معلومات ورته برابروي. کله چې ښاروال د غوښتنلیک پر کڅوړه لاسلیک وکړي، بیا د ښاري پرمختیا ریاست ته راجع کیږي. ودانیز شرکت معمولاً غوښتنلیک له ښاروالۍ څخه د ښاري پرمختیا ریاست ته په خپله وړي، ترڅو چې دغه پړاو په چټکۍ ترسره شي.

## څلورم پړاو: د ښاري پرمختیا ریاست څخه د لومړنی منظورۍ ترلاسه کول.

**موده:** ۳۰ ورځې

**لګښت:** ۱۵۸۳۶ افغانۍ

**تشریح:** ودانیز شرکت د ښاري پرمختیا ریاست ته خپل غوښتنلیک سپاري. د ښاري پرمختیا ریاست په دوه کاري ورځو کې د ماستر پلان کتنه کوي، چې ایا دغه موقعیت د ګدام لپاره مناسب دی (چې دا په نښه شي، چې دغه نومره د عامه استوګنې په سیمه کې ده او که سوداګریزه سیمه ده). که چیرې پایلې مثبتې وې، د ښاري پرمختیا ریاست له ودانیز شرکت څخه لاندې اسناد غواړي ترڅو نوموړي ریاست ته یې وسپاري

- د ځمکې د نومرې سکیچ
- مهندسي نقشه
- د اړوندو آسانتیاو نقشه یا پلان ( برېښنا، اوبه، د فاضلابو د لیرې کولو او د تهویه سیسټمونه)
- د پروژې تخمیني لګښت
- د مهندسۍ او انجینرۍ نقشو د مسؤل انجنیر یا د پروژې د طرح کوونکي د ډیپلوم کاپي
- د ودانیز شرکت د جواز کاپي، چې د افغانستان د پانګه اچونې د ملاتړ اداري (ایسا) له لوري صادره شوې وي.

کله چې ودانیز شرکت ټول اړین اسناد د ښاري پرمختیا ریاست ته وسپاري، د دغه ریاست د مهندسي څانګه به د بهرنی (سرکونو، د پلې تګ لارې ) او داخلي (خونې، دهلیزونو) نقشې وګوري. که چیرې کومه ستونزه پکښې وموندل شي؛ نو نقشې به د اصلاح لپاره ودانیز شرکت ته واستول شي.

دغه نقشې بیا د ښاري پرمختیا د ریاست د ودانیزو چارو ریاست له لوري کتل کیږي او د ودانۍ جوړښتیزه څواکمنتیا ګوري، او همدارنګه د نوموړي ریاست د تخنیکي څانګې له لوري یې د ملحقاتو پلانونه کتل کیږي .

د ښاري پرمختیا ریاست د مالي آمریت څانګه د نقشو د بیا کتنه د فیس د ټاکنې معیار له مخې حسابوي او متقاضي ته یو بل ورکوي، چې افغانستان بانک کې یې تادیه کړي. د فیس تخمین او حساب نږدې څلور ورځې وخت نیسي.

د(سوداګریزه ودانیو د ودانۍ د نقشو د ارزونې لپاره) د فیس فورمول:

د ودانۍ حجم (په متر مکعب)X افغانۍ ۴،۷۰۰X۰،۰۳۵X۰،۰۲.

د بېلګې په توګه: د یو ګدام لپاره چې حجم یې ۳۹۰۱،۵ مترمکعبه وي، فیس یې ۱۲۸۳۶ افغانۍ کیږي.

سربیره پردې، د ښاري پرمختیا ریاست پر درخواست کوونکي د تخنیکي انجنیر، چې د تخنیکي پلان بیا کتنه یې کړې ده، د دوه ورځو لپاره فیس وضع کوي. چې دغه فیس د ورځې ۱۵۰۰ افغانۍ ده. په تولیزه توګه ودانیز شرکت باید ۱۵۸۳۶ افغانۍ(۱۲۸۳۶ د بیا کتنې فیس + ۳۰۰۰ افغانۍ د انجنیر دوه ورځنۍ فیس) ورکوي.

کله چې د ټولو نقشو بیا کتنه ترسره شي، د ښاري پرمختیا ریاست د محل پلان چاپوي او د ودانۍ حدود او شاخصونه مشخص کوي. ودانیز شرکت د سیمې د پلان په برخه کې یو سند لاسلیک کوي، په هغه کې ژمنه کوي، چې ودانۍ به په ګوته شوې ځمکه کې او د منظور شوې پلان پر بنسټ جوړوي. د ښاري پرمختیا ریاست د دغه سند درې کاپي ګانې جوړوي- یوه کاپي به د ښاروالۍ د ودانیزو چارو ریاست، دویمه کاپي د ودانیز شرکت او دریمه کاپي به د ریاست په سجلو کې ساتل کیږي.

### پنځم پړاو: د ښاروالۍ له لورې د ځمکې /نومرې پلټنه ترسره کول ، چې د ودانیزو چارو د جواز فیس تخمین شي

**موده:** یوه ورځ

**لګښت:** هیڅ

**تشریح:** د ښاروالۍ ودانیزو چارو ریاست د ودانیزو چارو د جواز فیس تخمین کوي، او یو مفتش ( د ودانیزو چارو د ریاست استازی) سیمې ته استوي، چې د ودانۍ د ځمکې ارزونه وکړي او دا باوري کړي، چې هیڅ ډول پخوانۍ ودانیزې چارې هلته نه دي ترسره شوي او ودانیز شرکت نومورې جواز یوازې د ودانیزو چارو لپاره کاروي. اړینه ده چې د ودانیز شرکت یو استازی د پلټنو پر مهال شتون ولري.

### شپږم پړاو: د ودانیزو چارو د جواز فیس ورکول او د جواز ترلاسه کول

**موده:** ۱۸ ورځې

**لګښت:** ۲۱۱۳۵

**تشریح:** ګمارل شوی مفتش ( د ښاروالۍ د ودانیزو چارو د ریاست لخوا) یو راپور د دغه ریاست مشر ته سپاري، چې په دغه راپور کې د ودانیزو چارو د جواز فیس جزییات او محاسبه لیکل شوې ده. ودانیز شرکت په بانک کې دغه فیس تحویل او رسید یې بیرته راوړي. ودانیزه ریاست رسید د د سیمې د پلان له کاپي سره ضمیمه کوي، چې د اسنادو دغه کڅوړه د ودانیزو چارو د جواز په توګه کارول کیږي. د ودانیزو چارو ریاست یو مکتوب صادروي، د اړونده ناحیې مشر ته خبر ورکوي چې درخواست کوونکي ودانیز شرکت ته جواز صادر شوی دی.

